محسن

د قرآني زده کړو او پوهنې لړۍ

۱۰۴

# محسن تفسیر

## ۱۰۴ ــ د «همزه» سورت

ژباړه او څېړنه :

احمد حسین عنایت

د همزه سورت تشريح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسين عنايت

بسم الله الرحمن الرحيم
د لوراند او لورين الله په نامه
سورةالهمزة

## د همزه سورت (۱۰۴)

د «همزه» سورت مکي دی (۹) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې (۱۰۴) سورت دی ، او د «عصر» سورت پسې په قرآن کې ځای پر ځای شوی دی د مفسرينو تام اکثريت پر دې نظر دي چې دا سورت مکي دی او ددې سورت متن او مضمون هم پر دې شاهدي ورکوي چې دا سورت په مکه کې د نازل شوو سورتونو په لومړني پړير پورې اړه لري.

له مخکيني سورت سره اړيکه او د مضمون محور:
د همزه سورت له دوو مخکينيو سورتونو (عصر او تکاثر) سره څرګنده اړيکه لري، په داسې ډول چې کېدی شي دا دريواړه سورتونه (تکاثر، عصر او همزه) د دنيا پالنې او مال دوستۍ په ګډ چورليز کې يو د بل بشپړوونکي وګڼل شي؛ د «تکاثر» سورت د مرګ تر رسېدو پورې [په مال او اولاد «ثروت او قدرت » کې] له تصاعدي ډېر غوښتنو سره د انسان بوختېدل تر غندنې او ترټنې لاندې نيسي، د «عصر» په سورت کې د انسان په دنيايي بېحاصله، بې هدفه او بې موخې ژوند سوګند خوري او نېکوکار او وړچاري مؤمنين چې د ټولنې پر وړاندې د مسئوليت په احساسولو، يو بل ته په حق او صبر سپارښتنه کوي، ستايي او تجليل يې کوي. او په پای کې د «هُمَزَه» په سورت کې د ګواښنې او افسوس په «وَيْـل» او وای سره، ويارسپړي، عيب پلټونکي پېغورګر غندي، ترټنه او سرزنش يې کوي چې له يوې مخې په ټوله کې د مال په راټولولو او شمېرلو بوخت او پر هغې متکي او ډاډه دي. پر دې ترتيب هر دريواړه سورتونه د مال او ثروت په مقابل کې د عمر د پانګې په بدلولو او تجارت کې د انسان د خسران او زيان په اړه دي.

د پاملرنې وړ ژوره خبره چې د دوو سورتونو [«عصر» او «همزه»] تر منځ په پرتله کې برېښي، هغه دا چې؛ د مؤمنينو او دنيا پالو تر منځ د کارکړنې تقابل، مخامخ کونه، مقايسه او په خوشو او بېحاصله خيزونو کې د دنيا پالو ډاډېنه او نښتنه څرګندوي، د عصر په سورت کې له هاغو خلکو څخه يادونه کوي چې د ايمان او عمل اهل دي او د ځانوينې او ځانغاړې له تنګ ګوډې څخه راوتلي او خارج شوي دي، له فردي او شخصي ګټو څخه په اوچت او پراختر افق کې، د ايماني ټولي، کُلي او ټولېز مصلحتونه په پام کې نيسي او د نورو پر وړاندې د تکليف او «ايماني ولايت» له احساس سره نورو ته د حق [يعني پر ټولنې د اوچتوونکو او لوړتيا ښبونکو ارزښتونو

د واکمنولو په اړه] له توصيي او صبر [يعنې له ارزښتونو څخه په دفاع او څارنه کې کلک دريځ او ټېکاو نېولو] ته له توصيي سره د ټولنې پر وړاندې خپل پور اداء کړي، د همزه په سورت کې، برعکس [له بل اړخه] د هاغو کسانوڅرګندونه کوي چې له نورو سره د دوستۍ او زړه سوي او د عيبونو او مفاسدو د اصلاح او له منکراتو څخه د مخنيوی پر لور د هڅې پر ځای، لـه يـو مخې [له پيله تر پايه] عيب څارنې، ويار سپړنې، ګوتنېونې او پېغورنې کوي او په ټولنه کې د تړاوونو او پيوندونو د پرېکون، بېلتون او ګډوډۍ لامل کېږي [د هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ معنا]، دوی لکه څنګه چې په ټوله کې له يو مخې يې خپل ځانونه داسې د مال په راټولولو، شمېرلو او ساتلو کې نښلولي او بوخت کړي دي، چې اصلاً د مفاسدو په اړه د فکر کولـو او د هغوی د اصـلاح لپاره حوصله او فرصت نلري.

پـه دې سـورت کـې چـې د کومـو اخلاقـي بېلارېـو او بـديو غندنـه او ترټنـه شـوې ده دا هاغـه دي چـې د جـاهلی ټـولنې پـه دنياپـالو او د زر او زيـور پـه مريـانو کـې يـې شـتون درلـود، پـه کومـو چې هـر عـرب پوهېده چې دا بدۍ او بـېلارۍ پـه واقعيـت کـې د هغـوی پـه ټولنـه کـې شـتون لـري کـومې چـې ټولـو خلکـو بـدې ګڼلـې او هيچـا دا نـه انګېرلـه چـې دا کـوم ښـه دود دی. ددغـه نـاوړه او ناسـم دود، خُلـق او خـوی لـه وړانـدې کولـو وروسـته يـې دا ويلـي چـې پـه آخـرت کـې بـه دداسـې خلکـو پايلـه څـه وي دا دواړه خبـري [يعنـې لـه يـوې خـوا د هغـوی دا چلـن او بـل لورتـه پـه آخـرت کـې د هغـوی پايلـه] پـه داسـې انـداز کـې کـې بيـان شـوي دي چـې د اورېـدونکې ذهـن نيـغ پـه نېغـه سـمدم دې پـايلې تـه رسـېږي چـې د داسـې چلـن، کړنـو او چـارو پايلـه بايـد همداسـې وي، او څرنګـه چـې پـه دنيـا کـې داسـې چلـن والـو او کړوالـو تـه کومه جزا نه ورکول کېږي نو ځکه د قيامت ګرځاندول او ولاړول په جوته توګه اړين دي.

حضرت رسول اکرم (ص) چې د مکې خلک اسلام ته وربلـل ډېری د مکې لـه بـډايانو پـر خپلـو شتمنيو او مالونو مين ول او پر دې پوهېدل چې که مسلمانان شي د خپلـو مـالونو او شـتمنيو يـو څه کچه بايد فقيرانو او اړمنو ته ورکړي؛ قرآن اړمنو ته د مرستې او لاسنيوي خبره کوي. د مکې مشرانو او بډايانو پر خپلـو شـتمنيو او مـالونو زړه تړلـی وو هغـوی دا نـه خوښـوله چـې لـه خپلـو مالونو اوشتمنيو څخه نورو ته ورکړي، له همدې لامله هم هغـوی ايمـان نـه راوړ؛ هغـوی بـه تـل فقيران او بېوزلي مسخره کول او ملنډې به يې پرې وهلې او هغوی ته به يې ويل: پر تاسـو خـدای په قهر شوی دی چې داسې په فقر او بېوزلۍ اخته ياست، خو خدای زموږ سره مينه کوي او پر مـوږ مهربان دی. دا د ژبې زخم او پېغورونو به د بېوزلو او فقيرانو زړونه دردول او هغوی به يې ځورول.

هغوی به که لېدل چې کوم بېوزلی اړمن او فقير د هغوی لورته راځي، خپله لار به يې تـري کـږوله

او له هاغه [فقيره] به يې مخ ګرځاوه، که کوم اړمن به له هغوی مرسته غوښته، ورته بـه پـه قهـر او غوسه کېدل او خپلې وريځې به يې کش کولې او ببرولې او هغه به يې له خپلې مخې لېرې کاوه او په لاس به يې تمباوه. نو په دې سورت کې د هاغه سرليک پـه اړه چـې د دا ډول کسـانو پـه انتظـار کې دی خبره کوي.

دا سورت که د هاغو سورتونو په لړ کې وکتل شي چې د زلزال له سورته تـر دې ځايـه رارسـېدلي دي نو سړی په ډېره آسانه طريقه پوهېدی شي چې په مکه معظمه کې په لومړني پَير کې خلکـو تـه په کومه طريقه د اسلامي باورونو او اخلاقو زده کړه ورکول کېده. او دا لړۍ يـې پـه کومـه طريقـه د هغوی په ذهن کې ځای پر ځای کړې وه. د زلزال په سورت کې يې ويلي دي چې په آخرت کې بـه د انسان ټوليز کړنليک د هغه مخې ته کېښودل شي او د يوې ذرې په کچه نېکې يا بدې به يـې هـم داسې نه وي چې په دې دنيا کې يې کړې وي او هلته يې مخې ته رانشي. د عاديات په سورت کې د هاغو لوټماريو، وژنو، ويني بهونو او يرغلګريو لور ته اشاره شوې ده چې په عربو کې دود ول، وروسته ددغه احساس له ورکولو وروسته چې د الله د ورکړل شـوو ځواکونـو دا ډول کـارول ډېـره ستره ناشکري ده، خلکو ته يې دا ويلي چې معامله په دې دنيا کې پای ته نه رسېږي بلکې تر مرګ وروسته به په بل ژوند کې نه يوازې ستا د کړنو بلکې ستا د نيتونو تر بريده غورچاڼ کېږي او سـتا پالونکی ښښتن [ستا رب] ښه پوهېږي چې کـوم انسـان د څـه ډول چلنـد جوګـه دی. د قارعـه پـه سورت کې يې د قيامت د چاپېريال او نقشې له انځورولو وروسته خلـک ګواښـلي او خبرتيـا يـې ورکړې چې په آخرت کې د ښه يا بدې پايلې بنه د هغه د کړنو د ميزان په درونـدوالي يـا سـپکوالي پورې اړه لري، د تکاثر په سورت کې يې د هاغـه مـاده پـالي او تـوکيزوالي ذهنيـت پـه اړه پاملرنـه کړې ده د کوم له امله چې خلک د مرګ تر دمه بـس د دنيـوي ګټـو او خونـدونو، ژونـد او چړچـو، سوکاليو، پانګې ټولونو، شتمنيو او ځواک له ډېره، تر ډېرو حاصلولو او لاسته راوړلـو او يـو لـه بل څخه په مخکې تګ او مسابقه کې پر هڅه او کوښښ کې اخته دي، وروسـې يـې ددغـه غفلـت د بدې پايلې په اړه د آګاهۍ او پوهاوي په موخه خلکو ته ويلي چې دنيا د چـور چپـاول داسـې کـوم مال نه دی چې هر ښنګه چې د چا لاس پرې بر شي له هر څيزه غيره تاوه کړي بلکې يو يو نعمـت چې هر چا دلته لاسته راوړی د هر يو لپاره به يې د خپل رب پر وړاندې ځـواب ورکـوي چـې څـه ډول يې لاسته راوړي او څه ډول يې کارولي دي. د عصر په سورت کې يې په ښرګنده او بربښـنده توګه رڼه خبره کړې چې د انساني نوعې هر يو وګړی، هره ډله، هر ګوند، هـر قـام حتـا د انسـانيت ټوله نړۍ په خسران او زيان کې دي که په دې افرادو کې ايمـان او صـالح عمـل نـه وي، او ورسـره ورسره په ټولنـو کـې د حق لـور تـه د وګـړو نصـيحت او د صـبر د تلقـين پـه اړه عـام دود نـه وي. وروسـې د همزه سورت [همدا سورت] دی چې هاغه وګړي چې له مال پـالنې او د دنيـاوي مـادي

توکو سره مينه کوي او د هغوی په شمېرلو بوخت وي او په غيبت او پيغور ورکولو سره په خلکو اور بلوي او داسې انګېرې چې دا هرڅه به تلپاتي وي، او پخپله دوی به هم تلپاتې کړي، خو په پای کې ورته د سوال په توګه مطرح کوي، چې دا څيزونه ولې د خسران سبب نه شي او همدا به د اور د لمبو په توګه ددوی له دننه غرغنډې او ژبې راوباسي. دا کبرجن پانګوال، د ثروت، شتمنيو او بډايتوب په مينه مست او دا ټګمار ځانغاړي، داسې د کبر او غرور په مينه مستېږي چې د نورو له ټيټ ګڼلو، پر هغوی له ملنډو کولو، عيب څارلو، ويار سپړنو او غيبت کولو خوند او لذت اخلي او په دې توسه تفريح او ساتيري کوي. او د سورت په پای کې د هغوی له درد ناک سرليکه خبره کوي، چې ډېر په سپکاوي به لکه څنګه چې خلک بېکاره څيزونه ډېران ته غورځوي، دوزخ ته به غوزار شي، او د جهنم سوځوونکی اور تر هر څه مخکې د هغوی پر فواد [چې د انسان د ذهن او شعور او ادراک، غوښتنو، عقيدو، فکرونو، نيتونو او ارادو مقام دی يعنې د انسان شخصيت دی] راخيژي او بر لاسی کېږي، او له روح او اروا يې چې ددغه ټول غرور او کبر او شرارت مرکز وو، اور پورته کېږي، او ترې لمبې او غرغنډې راوځي، سوځوونکی، تلپاتې او اوږد اور.

## د سورت متن او د لغتونو ترجمه:

| | |
|---|---|
| بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ<br>وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ ﴿١﴾ الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ ﴿٢﴾ يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ ﴿٣﴾ كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ﴿٤﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ ﴿٥﴾ نَارُاللَّهِ الْمُوقَدَةُ ﴿٦﴾ الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ ﴿٧﴾ إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ ﴿٨﴾ فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ ﴿٩﴾ | وَيْل= وای، افسوس، هلاکت، داسې يوه کليمه ده چې د خپګان او ناچارۍ په وخت کې ويل کيږي ـ هُمَزَةٍ = ډېر عيب څاری سړی، ويار سپړی، ماتوونکی ــ لُمَزَةٍ = ډېر پېغور ګر سړی، غيبت ګر، ټيټ ګڼونکی په اشاره يا د وريځو په ورو ورو کشولو، سترګک وهل او اشاره کول د بل د ټيټولو لپاره، د چا د عيب څارنه او عيب څرګندونه، په ژبه يا سترګو ـ عَدَّدَهُ = پرله پسې ګڼې، شمېري ـ يَحْسَبُ = انګېري، فکر کوي، ګومان کوي ـ أَخْلَدَهُ = هغه تلپاتې کوي. ـ كَلَّا = هيڅکله نه، داسې نه ده ـ لَيُنْبَذَنَّ = له نبذ څخه مؤکد مجهول مضارع:شخص يا کوم څيز يې په سپکاوي لېرې واچوه، ژمنه يې ماته کړه، ور وبغورځول شوي، خامخا اچول کيږي، ورګوزار به شي ـ الْحُطَمَةِ= (مبالغه - لکه همزه او لمزه) ډېر ماتوونکی (اور)، ووړونکی، ډېر خپور، چيتوونکی [د دوزخ له نومونو]، له حطم: مات يې کړ، چيت يې کړ، سوزوونکی اور، دوزخ ـ مَا أَدْرَاكَ = څه پوه کړې ته؟، ته څه پوهيږې؟ ــ الْمُوقَدَةُ = بل کړی شوی(اور)، لګول شوی(اور) ـ تَطَّلِعُ عَلَى...= راوخيژي پر....، ونغاړل شي پر ....، برلاسی شي پر....، وسوزوي ــ الْأَفْئِدَةِ = د فواد جمع: زړونه، د قلب حساسه او رقيقه برخه، عقل، ضمير ـ مُؤْصَدَةٌ = (مفعول) له اوصده: ور يې کلک وتاړه، پر لوښي يې سر پوښ کېښود، غافلګير يې کړ، ورتړلی، راټول شوی، بند کړی شوی، پوښل شوی، ګومارل شوی ـ عَمَدٍ = د عماد جمع: دودانۍ ستنې يا پايې، د عمود جمع: هر هغه څيز چې ودانۍ پرې تکيه ولري ـ مُمَدَّدَةٍ = کش شوې، غځېدلې، اوږد شوی. |

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ ﴿۱﴾

واى [افسوس][۱] دې وي پر هر ويار سپړي [عيب ګر][۲] پېغور ورکوونکي.[۳]

الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ ﴿۲﴾

هاغه څوک چې [ډېر زيات] مال [او شته] يې را غونډ کړي او هغه شمېري[۴] [=هغه مال پالي چې د خپلو شتو له زياتېدو او د هغوى د کچې له شمېرلو خوند اخلي].

يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ ﴿۳﴾

[له خپل ځان سره] انګيري دا چې خپل مال [او دا ستره پانګونه]، به يې تلپاتې کړي.[۵]

| وَيْلٌ | لِكُلِّ | هُمَزَةٍ | لُمَزَةٍ | الَّذِي | جَمَعَ | مَالًا | وَعَدَّدَهُ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| واى | پر هر | ويار سپړي | پېغور ګر | هاغه څوک (چې) | راټول يې کړ | ډېر مال | او هغه شمېري |

| يَحْسَبُ | أَنَّ | مَالَهُ | أَخْلَدَهُ |
|---|---|---|---|
| هغه ګومان کوي [انګيري] | دا چې | مال خپل [به يې] | هغه جاويدان [تلپاتى] کړي |

۱ – «وَيْل» ګواښنه، هوشدار يا د افسوس، ترټاب، هېښتيا او ترحم ځرګندونه ده چې له خيره د محروميّت او نهيلۍ، مرګ، نفرين، غندنې، زبونۍ او خوارۍ مفهوم لري دا لفظ په مفرده بڼه [ويل] ۲۷ ځله او له ضميرونو سره جمعاً په ټوله کې ۴۰ ځله [چې د ډېرښت نښنه ده] په قرآن کې راغلى دى.

۲ – «هُمَزَةٍ»، يو ډول شړل، تمبول او رټل دي. دا لغت دوه ځلې نور هم په قرآن کې راغلى دى؛ يو ځل د مراسي، چوغولګر، خبرلوځ او خبرغل د بدستاينې او غندنې په اړه چې د خلکو تر منځ يو تر بله د لېرېتوب لامل کيږي «وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَهِينٍ. هَمَّازٍ مَشَّاءٍ بِنَمِيمٍ» [قلم ۱۰(۶۸:۱۰)] او ۱۱]، بل ځل د مؤمنون سورت ۹۷ آيت (۲۳:۹۷) کې چې عيب پالي، ويار سپړي او د نورو د شخصيت وړوونکي او ماتوونکي خلک يې شيطاني ګڼلي چې د ټولنې غړي يو دبل د بديو په رسوا کولو کې په خپلو کې يو له بله بېزار، کرکجن، خوابدي او لېرې کوي. ويل کيږي چې د «همزه» اصل کليمه ماتول دي. آيا د ټولنې د يووالي د ماتولو لپاره له غيبت او يو د بل له غندنې څخه اغېزناکتر کوم عامل او لامل شتون لري؟

۳ – «يَلْمِزُونَ» له «لَمَزَ»، [عيب پلټنې، او ويار سپړنې] څخه دى، بنيآدم د يو وجود غړي دي، پر دې بنا د نورو د عيب پلټنه او ويار سپړنه ددغه يو وجود په پام کې نه نيول او له خپلو عيبونو غفلت دى. دا لغت ځلور ځلې په قرآن کې تکرار شوى دى چې دوه ځلې يې د توبه په سوت کې «وَمِنْهُمْ مَنْ يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ... الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ

مِنْهُمْ...» [۵۸ او ۷۹ ] آیتونه او یو ځل د حجرات په سورت ۱۱ آیت کې (۴۹:۱۱) «...وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ...» او یو ځل هم د همدې سورت لومړنی آیت دی.

**۴ —** له دې توضیح معلومیږي چې خلکو ته په توهین کولو، تحقیر او د هغوی د شخصیت په ووړولو کې، له مال پالنې او د هغوی له شمېرلو او ګڼلو، بانکي شمېرې او ونډو او پانګې له سود څخه د خوند او لـذت اخیستلو تر منځ یوه اړیکه شتون لري او یو ډول د ارزښتي نظام نزول څرګندوي. د ژوندانه د تېرولو لپاره د وسیلې په توګه د مال جمع کول او د نا اتکل شوو پېښو لپاره مناسبه معقوله سپما، د ټولنو په عُرف کې منلی دود دی، هغه چې بد، مذموم او محکوم دی، د مال او ثـروت پـه اسارت او غلامۍ کې راتلل او په قرآني اصطلاح «په مال عاشق کېدل» دي: «كَلَّا بَلْ لَا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ. وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ. وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَمًّا. وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا». [فجر ۱۷ (۸۹:۱۷) تر ۲۰]

**۵ —** دا آیت له مال سره د مینې او عشق، یا په بل تعبیر د مال پالنې لامل او دلیل څرګندوي. د بني آدم وېره او غم، ډار او ناخوالې له دوو اندېښنو او سودا سرچینه نیسي: ۱ — د ځان زوال [ناروغتیا او مرګ]، ۲ — د مال زوال. شیطان هم د همدې دوو کمزوریو پر بنسټ آدم او جوړه یې وغولول او منع شوې شجرې ته د نه نژدېوالې الهي فرمان یې له تلپاتې عمر او تلپاتې مُلک څخه د هغوی د مخنیوي په توګه څرګند او بربښنده کړ.[طه۱۲۰(۲۰:۱۲۰) او اعراف۲۰(۷:۲۰)]. حال دا چې په قرآن کې [په ۱۴ آیتونو کې] «لا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَ لا هُمْ يَحْزَنُونَ» ته رسېدل یې له شیطاني شبکې او جال څخه د لېرې والي محصول او ایمان او اخلاص ته رسېدل ګڼلي دي. ډاډ او تکیه پر مال او د هغوی د شمېر او عدد له زیاتوالي سره مینه او عشق، په ژوندانه کې د ملاتړ درلودلو په هیله او اعتبار، داسې یو حساب دی چې په هوا کې دی، او داسې یو نقش دی چې په اوبو کې دی.

---

## د همزه سورت له لومړي تر دریم آیتونو تشریح: [(۱۰۴:۱) تر ۳]

ددې سورت نوم « هُمَزَةٍ » دهغه له لومړي آیت څخه اخیستل شوی دی. سـورت د «ویـلٌ» لـه کلېمې سره پیل کېږي چې دا کلیمه څلوېښت ځلې په قرآن کې تکـرار شـوېده. [«څلوېښـت» هـم له معنا ډک عدد دی]. خو «ویلٌ» د «وای» په معنا، داسې یوه کلیمه ده چې د یو چا په بدمرغۍ د اخته کېدو یا د مصیبت رسېدو پر مهال هغه ته ویل کېږي، دا که د هغـه پـر خپلـه ژبـه وي یـا د بل چا پر ژبه. خو، اصل موضوع دا ده چې پر دې ځـان پـوه کـړو چـې کـوم څیزونـه ددې لامـل کېږي چې انسان بدمرغه او بدبخت شـي؟ «ویـلٌ»: وای! واویلا! بـدمرغي، نشـت او نـابودي. هلاک او عذاب؛ چې کله کله هم د ندامت پر مهال او د پښیمانۍ په حالـت کـې ویـل کـېږي؛ د بیلګې په توګه؛ وای پر هغه! یا وای له دې سرلیکه! چې په واقعیـت کـې د انسـان لـه بـدمرغۍ، ناچارۍ او نښلېدو د انځورولو لپاره یو بیان دی. دا [لغت] ۲۷ ځلې د نکره په بڼه او ۱۳ ځلې

له ضمير سره مل په قرآن کې راغلی دی؛ لکه «ويلُکَ»، وای پر تا! يا په نورو ځايونو کې؛ وای پر هغوی! وای پرموږ! وای پر ما! هم راغلي دي. «وَيلٌ» په قرآن کې د مخلتفو کسانو لپاره کارول شوی دی، له هغې جملې؛ هاغه کسان چې پخپل لاس کتاب ليکي او د هغه نسبت خدای ته ورکوي: «فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَذَا مِنْ عِندِ اللّهِ». مثلاً يو فکر او نظر ، مطرح کوي او وايي دا د خدای له لورې دی. [د بېلګې په توګه ولايت فقيه يا د پيری مريدی لړۍ...] په داسې حال کې چې دا هره يوه يوازې يوه نظريه ده.

يو زر او څلور سوه کاله د اسلام له تاريخه تېرېږي او د هغې په اوږدو کې مو سلګونه عالمان او ديني سرلاري [امامان، پوهان او مراجع]، لارښوونکي او د نظر خاوندان درلودل چې له پورتنيو نظريو سره موافق او همغاړي نه ول، دا داسې نظريې دي چې په يو پړاو کې مطرح شوي دي او په اړه يې بايد ووايو چې؛ کېدی شي سمې وي، او يا هم کېدی شي ناسمې وي.

وايي: «وَيلٌ» وای پر هاغو کسانو چې خپله خبره راوړي او يا خپله خبره ليکي: «...يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ»، په خپل لاس يې ليکي، ثُمَّ يَقُولُونَ هَذَا مِنْ عِندِ اللّهِ. بيا وايي دا د خدای له لورې دي؛ دا خدای ويلي دي؛ دا د خدای دين دی. ورپسې فرمايي: فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ... نو، وای پر هغوی چې په خپل لاس يې وليکل. او ورپسې بيا هم فرمايي: وَ وَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُونَ. [بقره ۷۹ (۲:۷۹)] او وای پر هغو له هاغه څه چې له دې نظريې سره يې لاسته راوړي. لکه څنګه چې وينئ، په دې آيت کې درې ځلې د «ويلٌ» کليمه راغلې ده. په بل ځای کې وايي: «...وَ وَيْلٌ لِّلْكَافِرِينَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ» [ابراهيم ۲ (۱۴:۲)] وای پر کافرانو له سخت عذابه! [و مو ويل چې؛ «کافر» يعنې هاغه څوک چې حقيقتونه پټوي. دا قول درې ځلور ځلې په قرآن کريم کې راغلی دی.] يا؛ «...وَ وَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ.» [فصلت۶ (۴۱:۶)] وای پر مشرکانو. يا؛ «...فَوَيْلٌ لِّلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ اللَّهِ...» [زمر۲۲ (۳۹:۲۲)] وای پر هغو کسانو چې زړونه يې لکه د ډبرو په څېر سخت شوي دي او الله نه يادوي! يا؛ «وَيْلٌ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ.» [جاثيه۷ (۴۵:۷)] وای پر هاغو کسانو چې دروغ وايي او ګنهکار او ځانپالي، وګړچلي [ولس فريب] دي! يا؛ «وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ.» [مرسلات ۱۵ (۷۷:۱۵)] وای او افسوس په هغې ورځ کې پر دروغ ګڼونکو! يا؛ «وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ» [مطففين ۱ (۸۳:۱۱)] وای پر کم پلورونکو [سپک پلورو]. [د «مطفّفين» (کم پلورونکو) په نامه يو سورت هم لرو ]چې دا هاغه کسان دي چې خلک غولوي، خلکو سره چل کوي، په تول کې غبن کوي او حق يې خوري. يا؛ «فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ. » [ماعون ۴ (۱۰۷:۴)] وای پر نمونځ کوونکو! [هو، پاملرنه وکړئ؛ وای پر نمونځ کوونکو هم لرو، چې د «ماعون» په سورت کې

راغلی دی]. هماغه نمونځ کوونکي چې په وجود کې يې احساس او عاطفه نشته؛ نه يتيمانو ته پاملرنه لري او نه وږي مړوي. بس يوازې د خپل ځواک او پانګې په زياتوالي پورې نښتي او داسې نمونځ کوي چې يوازې پکې غبرګ او سم شي. وايي داسې نمونځ په واقعيت کې له دينه [له قيامته] ځان غړېدنه [انکار] او نامنبنته ده:

«الَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ.» [مطففين ۱۱ (۸۳:۱۱)] دوی د حساب او جزا ورځ دروغ ګڼي له دې عمل سره چې د خلکو له سرليکه بې پروا دي، دوی يوازې «مصلّين» دي، نه د صلات «اقامه» کوونکي. داسې يو نمونځ کوي چې تش ظاهري بڼه يې رعايت کوي. همداسې نور ددې په څېر ډېر زيات آيتونه په قرآن کې راغلي دي؛ د بېلګې په توګه «وَيْل» پر خدای د بهتان او تهمت کوونکو لپاره هم دی. يا د نا اهله دوست نيونې په اړه هم دی: «يَا وَيْلَتَى لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا.» [فرقان ۲۸ (۲۵:۲۸)] وای پر ما! کاشکې پلانکی مې [په دنيا کې] په دوستی نه وای نيولی. چې دا ټولې د مطالعې او څېړنې وړ موضوع ګانې دي، چې کوم ځايونه دي چې «وای پر ما» آه او فرياد د انسان له دننه پورته کېږي لکه څنګه مو چې ورته اشاره وکړه پر ځينو يې په همدې دنيا کې پرې انسان پوهېږي او پر ځينو يې هم په آخرت کې خبرېږي هلته انسان ځانته وايي چې؛ وای پر ما. لکه څنګه چې د کهف په سورت کې راغلي: «...يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً...» [کهف ۴۹ (۱۸:۴۹)] وای پرما! دا څه ډول يو ليک دی چې تر دې بريده دقيق ليکل شوی دی او زموږ هيڅ کوچنی او ستر چلند، نه ووړ او نه لواړ کارونه يې پرېښي دي. ډېر هېښنده يو سيستم دی چې دا ټول اطلاعات يې په ځان کې ساتلي دي!

تر دې ځايه هيله من يم د «وَيْـلٌ» مفهوم تر يو بريده څرګند او روښانه شوی وي؛ چې دا سورت «همزه» هم له «وای» سره پيل شوی دی: وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ. هُمَزة او لُمَزة څوک دي؟ «هُمَزَةٍ» د «هَمَزَ» له ريښې د مبالغې صيغه ده، ډېر عيبخاری او ويارسپړی؛ د نورو د شخصيت د ماتولو، ځپلو، تر پښو لاندې کولو او لتاړ کولو په معنادی. د «هَمَزَ» فعل يعنې ماتول، ووړول او چيتول، او په واقعيت کې د شخصيت ترور کول. کېدی شي په پښتو کې ورته وړ او مناسب انډول ونومو. «همزة» يعنې هغوی چې غواړي نور واړه کړي، دا که د ژبې په توسه وي يا له خپل چلند سره نور چيت کړي. هاغه کسان چې د خپل پورته تګ او پرمختګ لپاره د نورو پر ولو او پوړونو پښې ږدي او پر سر يې خېژي. يو د غيبت له لارې؛ يعنې د نورو ترشا بد ويل يا د هغه د شخصيت ترور کول: قرآن د غيبت په اړه وايي دا کار ددې په څېر دی چې د خپل مړ ورور غوښې دې خوړلې وي! ددې لپاره چې خپل ځان دې

مخکې کړې او پورته يې يوسي، ته د خپل ديني ورور شخصيت ووهي. هغه بد ځلوې ددې لپاره چې ته پخپله ښه وځليږې. :«...وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا...»[حجرات ۱۲ (۴۹:۱۲)]. [...او يو د بل غيبت مکوئ، آيا له تاسو کوم يو دا خوښوي چې د خپل مړه ورور غوښه وخوري!؟...]

قرآن د عيّابۍ، عيب خارني او ويار سپړني دا مسئله په پرله پسې توګه له مختلفو تعبيرونو سره مطرح کړې ده، کله هم له همدې لفظونو «همز» او «لمز» سره او کله هم د «غيبت» له لفظ سره او يا هم په بل آيت کې فرمايي: « ...وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ ...» [حجرات ۱۱ (۴۹:۱۱)]. «...له يو بله عيب پلټنه [ويارسپړنه] مکوئ او يو تر بله په ناوړه نومونو مه يادوئ [= پر چا ټاپه مه وهئ]. د ايمان [حوزې ته له داخلېدو] وروسته د اخلاقي معيارونو تر پښو لاندې کول څومره بد دي ...»

يو مهال داسې وي چې انسان د خپل ځان په اړه تعريف کوي؛ د ځان ستاينه کوي، دا هم يوه طريقه ده، خو يو وخت داسې هم دی چې نه، د خپل ځان په اړه يې تعريف نه دی کړی بلکې بل يې راټيټ کړی دی. هغه بل بد ستايي او غيبت يې کوي، نو کله مو چې بل راټيټ کړ، داسې انګېرو چې موږ پخپله پورته شوي يو. نو هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ هاغه کسان چې ناسم دي.

همّاز چې د همز مبالغه ده، د رذيلو، ناسمو سرکوبګرو او ځور ورکوونکو کسانو خُلق او خوی دی چې د نورو د شخصيت په ماتولو او سپکولو کې خپل موقعيت او پوړ تثبيت او ځواکمنوي. دا خصلت چې د انسانانو پر توهين او تحقير بنا کيږي، د دوستۍ او همچارۍ اړيکې او پيوندونه پرې کوي د دښمنۍ، تخاصم، تفرقې، بېلتون، اختلاف او عناد سبب کيږي د وګړو او افرادو د هڅونې، تشويق، جلب او جذب پر ځای د هغوی پر تمبونې او رټنې پای مومي. هيښنده دا چې د شيطان کار هم همدا دی؛ د شيطان دنده د مينې او محبت د پيوندونو او تړاوونو پرې کونه او د غورځېدا ژورو کندو ته د انسانانو اچونه ده. «وَقُلْ رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ». [مؤمنون ۹۷ (۲۳:۹۷)] او [پر تعصب، ګواښ او سختۍ د برلاسه کېدو لپاره] ووايه: پالونکی څښتنه، زه د شيطانانو له عيب پلټنې او نفرت اچونې تاته پناه درووړم.

په ټوليزه توګه عيب پلټنه، عيب خارنه، ويار سپړنه او عَيّابي په انسان کې ډېر بد خوی دی او د انسان د روح او اروا د انحراف او ناسموالي او سختې ناجوړتيا ستره نښه او علامت دی. [چې البته دا بايد له هاغه څه سره چې په اوسني اصطلاح د «انتقاد» يا په اسلامي اصطلاح

کې د «تذکر» په نامه راغلی، اشتباه نشي]. له «عَيّابی» څخه مقصد څه دی؟ انسان د خپلو ځانګړو انساني استعدادونو له لامله ځينې انحرافونه او ځانګړي ناروغتياوې هم پيدا کوي. له هاغو ناروغتياو يوه هم داده چې د نورو له رنځ او ځور څخه خوند اخلي. هيڅکله بايد سالم او روغ انسان داسې نه وي چې د يو انسان له ځور او رنځه خوند واخلي. زيات نه زيات يې دا چې د نورو د رنځ په نسبت بې تفاوته اوسي او که نه نو طبيعي او فطري او د سلامتۍ حالت يې تر ټولو ړومبی، دادی چې انسان د نورو له رنځه ورنځيږي. خو کله چې دا ډول بيماري او ناروغتيا په انسان کې پيدا کيږي چې نورو ته له رنځ ورکولو او د خلکو له ځورولو خوند واخلي. مثلاً له دې چې يو څوک په لَغتو ووهي او بل لَغتې وخوري خوند اخلي. وسمهال دې ناروغتيا ته «ساديسم» وايي. چې دا پخپله دوه ډوله ده: ځينې د نورو له جسماني رنځ او ربړه خوند اخلي. ډيری هاغه وګړي چې پر خلکو له ظلم کولو او جنايت واردولو سره روږدي شي ورو ورو داسې يو حالت ورته پيدا کيږي چې ګواکې که يوه موده تېره شوې وي او څوک يې په تراټ او متروکه نه وي وهلی، څوک يې په څپېړه نه وي وهلی، يو څوک يې تر خپلو لَغتو لاندې نه وي اچولی د کمبوتۍ او نا آرامۍ احساس کوي، لکه د نشه ئي په څېر د خمار په حالت کې دی، چې يو څوک پيدا کړي په کومه پلمه يا پرته له پلمې يې ووهي او د نورو پر وهلو يې نشه پر ځای شي او خوند ترې واخلي.

خو تر دې پورته او سخته ناروغتيا، خلکو ته د روحي ربړ او ځور ورکولو ناروغتيا ده؛ نو يو شمېر دا ناروغتيا لري چې د خلکو له جسماني ربړ او ځوره خوند اخلي خو ځينې نور، خلکو ته له روحي ربړ او ځور ورکولو څخه خوند اخلي؛ يعنې دا چې داسې يو کار وکړي چې د خلکو په زړه اور بل کړي، په داسې يوه بڼه چې خلکو ته روحي اذيت او ځور ورکړي، مثلاً د يو چا آبرو او حيثيت په هره کېدونې بڼه يوسي. عيّابي [ويار سپړي] چې په اسلام کې په سختۍ غندل شوې داده چې انسان داسې يو حالت ولري چې دا يې خوښيږي د خلکو عيبونه راوسپړي او يا عيبونه ورته ولټوي او يا که څوک کوم عيب هم ولري هغه پرله پسې تکرار کړي او داسې يو کار وکړي چې د نورو شخصيت مات او ووړ کړي، چې البته دا هم په راز راز بڼو سرته رسوي؛ کله کله انسان د ژبې په توسه له لفظ او وينا سره دا عمل سر ته رسوي، غيبت کول داسې يو څيز دی. انسان د لفظ او کلام په توسه، له غيبت کولو، تهمت کولو، ښکنځلو او بدستايلو سره نورو ته آزار ورکوي. دا، ويارسپړي له لفظ سره ده. خو له خلکو عيّابي، عيب څارنه او ويارسپړنه يوازې په همدې کې نه خلاصه کېږي او په همدې ځای ته نه

رسېږي . کله کله د عمل په توسه هم د يو چا حيثيت وړي، د يو چا روح او اروا ته اور اچوي. د بېلګې په توګه پېښې يې کوي، په سترګو، په وريځو، شونډو، سترګکونو، غمزو او اشارو سره پر يو چا ملنډې وهي او سپکاوی يې کوي. او بعضې په بنسټيزه توګه دا خوښوي چې يو څوک د عيب څارنې او ويار سپړنې لپاره په اصطلاح موضوع او سوژه وګرځوي. هاغه کسان چې د نورو عيبونه د افشاء ګرځي، رسواکونې او بربنډونې په نيت دلته او هلته لېږدوي او يو او بل ته يې وايي، ددې لپاره چې د هغوی په طرد او رټنې کې خپل پوړ او موقعيت ته تحکيم او ټيکاو ورو‌ببښي، د قرآن په تعبير ټيټ او پست انسانان دي؛ چې په ژوند کې د هغوی تګلار همدا عيب څارنه او ويار سپړنه ده: «وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَهِينٍ. هَمَّازٍ مَشَّاءٍ بِنَمِيمٍ».[مګر ته د خپلو توحيدي دريځونو د ساتلو په پار] له هر قسمخور سپک [او ټيټ وګړي] پليونې مکوه. [هماغه چې] بېلتون اچوونکی [او د خلکو د عيبونو] ډېر لېږدوونکی دی چې په چوغلۍ [اوخبرلوڅۍ] پسې ځي.

وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ. د «لمز» معنا هم د نورو د شخصيت د تحقير او ټيټ ښودنې په موخه له سترګو او ژبې سره، عيب څارنه او ويار سپړنه ده، له دې توپير سره چې ګواکې د «همزه» په معنا کې طرد [رټل،غورځول او شړل]، دفع [تمبول او ټيله کول] او سرکوبول غالب دي. په هر صورت دا دوه صفتونه چې له دنياپالنې او د مال له راټولونې سره وده کوي، د هاغو کسانو روحيه ده چې د خپلې مادي ترقۍ او پرمختګ د پوړيو لپاره يې، د نورو حقونه او منزلتونه د تېرې لپاره ګومارلې او پاټکی پاټکی [پله پله] پر هغې ګام ايږدي او پورته ځي. په لاندينيو آيتونو کې د «لمز» لفظ ته په څرګنده توګه اشاره شوې ده:

«...وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ...» [حجرات ۱۱(۴۹:۱۱)]...له يو بله عيب پلټنه [او ويارسپړنه] مکوئ او يوبل په ناوړه نومونو مه يادوئ [= پر چا ټاپه مه وهئ]... – «وَمِنْهُمْ مَنْ يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ...» [توبه۵۸(۹:۵۸)] او له دوی څخه، ځينې يې په صدقاتو کې [دوبش په طريقه کې] پر تا نيوکې کوي... – «الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ...» [توبه ۷۹(۹:۷۹)]. «هغه کسان چې، پېغورنې [اونيوکې] ، له هاغو مؤمنانو څخه کوي چې پخپله خوښه [په جهادي لګښتونو کې] صدقې ورکوونکي دي .....».

اوس راځو دې ته چې آيا «همزه» او «لمز» له يو بل سره څه توپير لري؟ دا کېدی شي په اصل کې يو له بله توپير ولري خو موږ انګېرو چې بيا وروسته د ډېرې کارونې له لامله، يو د بل پر

ځای کارول کیږي په داسې ډول چې دواړه یو د بل تأکید کوي چې «همز» له پس شا عیب ځارنې او «لمز» له مخامخ عیب ځارنې څخه عبارت دی. یا «همزه» د لفظ او ژبې په توسه عیب ځارنه، او «لمزه» د عمل په توسه عیب ځارنه ده.

خو ژبپوهان ددې منلو ته چمتو نه دي چې دا ډول برید دې ددې دواړو لفظونو تر منځ شتون ولري نو په واقعیت کې «همز» هر ډول عیب ځارنه څرګندوي او «لمز» هم هر ډول عیب ځارنه څرګندوي او دا دواړه لفظونه یوازې یو د بل ګټهور تأکید او تائید کوي. په ځانګړې توګه له عمل سره عیب ځارنه، ښايي ډېره ناراحت کوونکي وي. انسانان له دې چې پس شا ورپسې خبرې وکړې دومره نه ځوريږي چې ويني يو څوک لګيا دی په عمل کې د ملنډو لپاره د هغه پیښې کوی [د چلن یا د وینا په توسه]، یو ډول ځانګړې لوبه او تمثیل کوي ددې لپاره چې خلک وخندوي؛ چون د لوبې او تیاتر مسئله د خبرو له اوریدو څخه زیات په خلکو اثر کوي.

د «هُمَزَة لُمَزَة» لپاره مختلفې معناګانې چې يو تر بله اړيکې لري مطرح شوي دي لکه:
الف – هُمَزَة، ډېر غیبت کوونکی، او لُمَزَة ډېر سخت عیب ځاری او ویار سپړی. ب – هُمَزَة؛ د لاس د اشارې په توسه عیب سپړنه، لُمَزَة د ژبې په توسه. ج – هُمَزَة، هاغه چې مخامخ بده ستاینه وکړي، او لُمَزَة هاغه چې پس شا په غیاب کې. د – هُمَزَة، چې ښکاره او په اوچت غږ وواېي، لُمَزَة په پټه او د سترګو او وريځو په اشاره. نو هر څوک چې د خلکو د حیثیت او آبرو سره لوبې کوي، او هغوی تحقیروي او سپکاوی يې کوي، د ځان یا نورو د ښه څرګندولو لپاره د هغوی کارونه ناځیزه او خوشې ګڼي او د بدیو او ناوړو کارونو نسبت ورته کوي، او هغوی ته مخامخ یا د هغوی پسِ شا د هغوی توهین او تحقیر کوي، او خپل اوچتوالی او ستروالی د خلکو په ټيټوالي او کوچنیوالي کې ويني، «هُمَزَة لُمَزَة» دي.

په عربي ژبه کې د همزه او لمزه لفظونه د معنا له مخې دومره يو تر بله نژدې دي چې کله کله هر دواړه لفظونه په يوه معنا کارول کیږي او کله که د دواړو تر منځ توپيرهم وي هغه هم په داسې ډول څرګندیږي چې ځینې خلک چې د همزه مفهموم بیانوي ځینې نور بیا همدغه مفهوم د لمزه لپاره بیانوي او ددې په اووښتې ډول کوم خلک چې د لمزه لپاره کومه معنا بیانوي هماغه معنا بیا نور د همزه لپاره بیانوي دلته چون دواړه یو د بل تر څنګه راغلي او د هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ لفظونه کارول شوي دي نو دواړه يو تر بله مل دا معنا ورکوي چې دا شخص عادت شوی دی چې د نورو تحقیر او تذلیل وکړي، يو څوک چې ويني ګوته ورته نیسي او د سترګو اشارې کوي د چا پر اصل او نسل پيغورنې کوي، او د چا په ختَه او ذات کې چینجي

راوباسي، چاته مخامخ ټکې او ملنډې کوي، او د چا پسې پس شا د هغې غيبت او بده ستاينه کوي، کله هم چوغلي او خبرلوڅي کوي او له زياتونې او کمونې سره هغه لېږدوي، دوستان او ملګري جنګوي او په ځينو ځايونو کې د ورونو تر منځ بېلتون اچوي، پر خلکو بد بد نومونه ږدي، پر هغوی ټکې او ملنډې کوي او عيب ښارنه او ويارسپړنه يې کوي.

نو «لُمَزة» هم هاغه څوک دی چې عيب ښاری دی، پېغورګر دی، ملنډې وهي، او پر نورو ټکې کوي، ټوکې او وشتې جوړوي، نور رټي، او ټکوي. نو که پوښتنه مطرح شي چې؛ «هُمَزه» له کومې لارې د نورو شخصيت ماتوي؟ له عيب ښارنې، ويار سپړنې او ټکونې سره، له ناوړه او ناسمې ګوتنېونې، غيبت کولو او توهين کولو سره. ددوی ناروغه او بيماره روحيه ده چې دوی ته اجازه ورکوي د نورو شخصيت او حيثيت ته سپکاوی وکړي او زيان ورورسوي. زيان رسول او تېری يوازې د نورو پر مال د تيري او تجاوز په اړه نه دی، د نورو د زړه او روح آزارول هم پرته له دې چې مناسب او موجه دک او دليل ولري د هغوی پر حقونو تېری ګڼل کېږي.

قرآنکريم هاغو کسانو ته په خطاب کې چې د پيغمبر کور ته به راتلل وايي: چې کوم مهال پيغمبر تاسو د غذا خوړولو لپاره خپل کور ته وروبولي، د غذا له خوړلو وروسته نور هلته مه پاتې کېږئ او له يو بل سره په خبرو اترو مه بوختېږئ. ستاسو دا چاره او عمل پيغمبر ناآراموي، هغه حيا او شرم کوي چې تاسو ته ووايي له کوره يې ولاړ شئ: «...إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنكُمْ...» [احزاب ۵۳(۳۳:۵۳)] پاملرنه وکړئ پيغمبر څه ډول يو ځانګړی او نادر شخصيت درلودلی دی. د ټولنې سرلاری او لارښود دی، د ټولنې ستر ځواک دی، خو دومره حيا لري چې ځانته اجازه نه ورکوي؛ کوم کسان چې کور ته يې راغلي دي او غذا يې خوړلې ده او اوس له ډېرو خبرو اترو او ځوړ سره د هغه د مزاحمت او ربړ لامل کېږي ورته ووايي چې خپلو کورونو ته ستانه شي. هغه مهال خو کورونو د اوسنې پير په څېر نه ول چې څو خونې ولري. يوه خونه به وه او د کور ښځينتن، مېرمن او ماشومانو به ټولو په هماغه يوه کوټه کې ژوند کاوه. پيغمبر حيا درلوده چې هغوی ته ووايي چې غذا مو خوړلې ده نور خبرو اترو ته مه کېنئ، بايد ولاړ شئ او زموږ ستونزې هم په پام کې ونيسئ همدا خبره هغه له هاغه ټول ځواک او د ټولنې د رهبرئ او سرلارئ له درلودلو سره سره نه کوله، حيا يې کوله او هغوی ته يې نه ويله. دا ډېره مهمه ده او د پيغمبر له ستر شخصيت او سترې روحيې حکايت کوي. تر کوم بريده بايد سړی دروني حيا ولري چې ځانته اجازه نه ورکوي نور خلک

حتا ډېر لږ هم ورنځوي او خوابدي يې کړي. خو وسمهال تاسو ووينئ چې يو شمېر، ددې اپوټه، شخصيت يې داسې دی چې د نورو د سوکالۍ تحقير کوي او ملنډې پرې وهي، هغوی رټې او ټکوي، ټوکې او ټکې پرې کوي، او له خپل دې عمله خوند اخلي.

## د مال پالنې اخلاقي ناروغتيا [د چلن اروا پېژندنه]

الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ : هاغه څوک چې ډېر مال او شتمني غونډوي او په ځلونو ځلونو هغه شمېري. تر دې کچې له مال او شتمنيو سره علاقه او مينه لري چې پرله پسې هغه شمېري، او د درهم او دينار [يا پونډ او ډالرو]، يا نورو شتمنيو او پانګې له برېښنا او ځلا خوند او لذت اخلي، او خوښي کوي. هر درهم او دينار د هغه لپاره داسې يو بت دی چې نه يوازې خپل شخصيت بلکې ټول شخصيتونه په هغې کې خلاصه کوي او طبيعي ده چې دا راز بېلارې او بېهوده انسانان، فقير او تنګلاسې مؤمنان پرله پسې تر مسخرو او ملنډو لاندې نيسي. نو له لومړي آيت وروسته دويم آيت په څرګنده توګه دا معنا ورکوي چې د خلکو تحقير، ترټنه او تذليل د خپل مال او شتمنيو په غرور کې کوي د مال د جمع کولو لپاره د «جَمَعَ مَالًا» لفظونه کارول شوي دي چې د مال د کثرت مفهوم تري راوځي، وروسته «عَدَّدَهُ» د خپل راټول شوي او ساتل شوي مال د شمېرلو او ګڼنې په لفظونو کې ددغه شخص د بخل او زرپالنې انځور تر سترګو کېږي. د عيب خارنې او ويارسپړنې ريښه يو ډول غرور او تکبر دی چې خپل ځان ورته له نورو اوچت او بې عيبه برېښي او نور ټول خلک معيوب ګڼي، او دا له څه پيدا کېږي؟ دا ټول د شتمنۍ او د مال او ثروت د راټولولو په پايله کې.

«وای» د هاغه ثروتمند او شتمن پر حال چې کله کوم بېوزلی ورته راشي، خپله څېره بروسوي او هغه فقير او بېوزلی له ځانه شړي او لېرې کوي! «وای» پر هغو چې پر بېوزلو او فقيرانو عيب نيسي او ويارسپړنه يې کوي او پر هغوی ملنډې کوي «وای» پر هغه چا چې ډېر مال او شتمني ټولوي او پرله پسې هغه شماري! هغه تل د هغه پر ګڼنې او شمېرنې بوخت دی. او له دې کاره خوند اخلي، کله چې خپلو طلايي سکو ته ګوري، خوند ترې اخلي او خوښي کوي.

نو د «همزة لمزة» صفت له وروسته توضيح « الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ» سره مشخص او ځانګړی شوی دی چې دا د کومو کسانو ځانګړتيا ده؛ کوم مهال چې د مال، ثروت او شتمنيو د راټولولو او د هغوی د شمېرلو عشق، مينه او علاقه په زړه کې ځای ونيسي، ددې په مصداق

چې دوه مينې په يوه زړه کې نه ځايږي او هم دا چې «مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ...» [احزاب ۴ (۳۳:۴)]. الله د هيچا لپاره په ګوګل کې دوه زړونه ندي ايښي. نو الله او د الله مخلوق له هغې خارجيږي او څرنګه چې د ثروت او شتمنيو تکاثر او ډېروالی د نورو له استثمار [او زبېښاک] سره نېغ او مستقيم تناسب لري، ورځ تر بلې د خلکو سره مينه او محبت او د هغوی له سرليک سره حساسيت او خواخوږي له منځه ځي او څرنګه چې محرومان او لاسلاندې، زبېښل شوي او استثمار شوي هم په آسانۍ او پخپله خوښه او رغبت، تسليمېدو او زبېښاک ته تن نه ورکوي او ځېنې حتا مخالفت او مقاومت هم کوي، خپلمنځی اړيکي ورځ تر بلې خړې پړې او ماديترې کېږي او کينه، دښمني، بغض او بدويني د انساني سالمو اړيکو ځايناستې کېږي. په داسې يو حالت کې د شتمنيو، ثروت او ځواک خاوندان هڅه کوي د لاس لاندېيو له عيب خارنې او ويارسپړنې سره د هغوی کار او شخصيت ته په کم ارزښت ورکولو او په تحقير او توهين کولو د هغوی د روحيې له تضعيف سره زبېښاکګرۍ او د خپلو ګټو خوندي کولو او زياتولو ته ادامه ورکړي او پرله پسې له يومخې هغوی د ذلت او خوارۍ په ستان او ځايګې کې وساتي. نه يوازې دا چې پخپله له تنګلاسو او ښکيل شوو سره مرسته نکوي، چې د هغوی د روږدي کېدو له وېرې، نور هم له دې کاره منعه کوي او مخنيوی يې کوي او له توند خويي او بدو ردو، ښکنځلو او زورلو سره خپلو تېری-ناکو لاسبريو ته غځونه ورکوي.

داسې يو حالت يې د قلم په سورت کې په څرګند او بربښنده توګه د ځواک او ثروت پر موقعيت له ټينګار سره بيان کړيدی: «وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَهِينٍ. هَمَّازٍ مَشَّاءٍ بِنَمِيمٍ. مَنَّاعٍ لِلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ. عُتُلٍّ بَعْدَ ذَلِكَ زَنِيمٍ. أَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ.» [قلم ۱۰ (۶۸:۱۰) تر ۱۴] له هر ټيټ، ډېر سوګند خوړونکي پليوني مکوه. ويارسپړی د چوغلۍ لېږدوونکی، له نېکيو ډېر مخ نيوونکی، تېری کوونکی ګنهګار، توند او زيږخويه، له دې بې تېرې وروسته،[ولې داسې دی؟ ځکه چې] د ډېر مال او اولاد [ځواک] لرونکی دی.

د قرآن په تعبير هاغه کسان چې ربا خوري [د مال ډېروالی ورته موخه ګرځي] پر خپلو پښو نه ولاړيږي او انساني استعدادونه يې د ودې، رشد او کمال پر لور فعليت او قيام ته نه رسيږي مګر په مسخ شوي او انحرافي بڼه: «الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ...» [بقره ۲۷۵ (۲:۲۷۵)] هاغه کسان چې ربا [سود] خوري نه ولاړيږي [=د هغوی استعدادونه او انساني قوې ودې، رشد او اوچتوالي ته نه رسيږي] مګر لکه د هاغه چا د

ولاړېدو [=شخصيتي بنه نيونه] په څير چې شيطان د [خپل] تماس له اغيزه په مسخ شوې بڼه [پيريانۍ بڼه] [= د انساني ارزښتونو اړولې بڼه] اخته کړی دی...

نو «هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ» څوک دی؟ الَّذِي جَمَعَ مَالًا هاغه څوک چې ټوله هڅه يې د مال راټولـول دي. وَعَدَّدَهُ. او دا چې تـل هغه وشـمېري. مـال او شـتمني د مصـرفولو لپـاره نـه غـواړي، هغـه لـه شـمېرلو او ګڼلـو څخـه د خونـد اخيسـتلو لپـاره غـواړي. دا يـې خوښـيږي چـې ورتـه ميليـادر ووايي. زړه يې غواړي چې نوم يې د نړۍ د هاغو سلو شتمنو کسانو په لېست کې شـامل وي. مشهورېدل يې هم يوې خوا ته، پخپله شتمني يې خوښيږي؛ همدا چې خپله بـانکي جـاري او د سپما شمېره ويني؛ خوند ورکوي! دا يو شوق دی. تاسو به ډېر کسان ليدلي وي چې ډېر ښـه مسلمانان دي د کاروبار تر څنګ به يې شوق مثلاً له لرغونو توکـو سـره وي او د هغـه لپـاره بـه يې يو ځانګړی ځای جوړ کړی وي او هره ورځ به هغه پخپلـه صـفا کـوي او لـه ډېـره شـوقه بـه پرې لاس وهي، دستمال به يې په لاس کې وي او ګـرد بـه تـرې لـرې کـوي، دوړې او غبـار بـه ترې په شوقي توګه پخپله پاکوي او د هر لرغوني توکي لپاره به په خپل انداز کې تشريح کـوي او وايي به چې دا توکی بېمثال دی او يا داچې دا توکی په ټوله نـړۍ کـې دوه دانـې دي يـو دادی او يو بل يې مثلاً د انګلستان په موزيم کې دی او بل هيڅ ځای کې نشته په همدې ډول نور ډېر او ځانګړي توکي او نور ډېر څيزونه يې د ځان لپاره راټول کړي او هره ورځ به يې ديـدن کـوي او ورته به خوښ وي چې داسې نادِر توکي لري که څه هم د عمر په پاياني شپېو کې وي. داسې کسان اندنه نه کوي چې تر دې وروسته به پر دې توکو څه بلا راځي او د کـوم سـرليک سـره بـه مخامخ کيږي که په خپل ژوند کې يـې وپلـوري او پـرې يـو روغتـون ودان کـړي يـا د نجونـو او مېرمنو لپاره ښوونځی يا پوهنځی پرې ودان کړي او د زده کړې لپاره يې پرانېزي څومره جاريه صدقه به يې کړې وي، خو داسې نکوي چې په پای کې ......

پاملرنه وکړئ دا ناروغي ده او اخلاقي انحراف دی چې سړی له فضـول او چټـي څيزونـو سـره شوق پيدا کوي، دا که لرغوني څيزونه وي يا داسې بل هر څيـز. لکـه ډول ډول کلکسـيونونه؛ د بيلګې په توګه د قهوه خانو تابلو ګانې، چې هره يوه پـه سـلګونو زرو روپيـو پېـري، او ارزښـت يې په دې کې دی چې دوه درې سوه کاله مخکې کارل شوي دي. نو پيسې او بانکي شميره هـم همدا ډول ده. پخپله پيسې، د هاغو کسانو لپـاره مـلاک ګرځـي چـې فکـر کـوي هغـوی بـه يـو اوچت او ممتاز ځای ته ورسوي. يعنې د مال په زياتولو کې به له هغوی بل سـړی جـوړ کـړي. نو په واقعيت کې ددې آيت معنا داده: «وای» د مال او پيسو په راټولوونکـو او د مـال پـر هـاغو

حسابوونکو چې تل د هاغو خلکو چې مال او ثروت نلري، په لفظ، په ژبه، په سترګو، په وريځو، مخامخ او پس شا عيب ځارنه، ويارسپړنه او بده ستاينه کوي.

يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ. هغه ګومان کوي چې شتمني يې هغه ته تلپاتېتوب وربښي [نو ولې به دداسې بت پلیونې نه کوي او د ټولو شخصيت به د هغه په پښو کې نه قرباني کوي؟] هغه انګيري چې مال او شتمني به مرګ له هغه لېرې کړي او هغه ته به تلپاتي عمر وروبښي؛ يعنې هغه ګومان کوي چې کوم مال يې د مبادا لپاره جمع کړی دی هغه ته تلپاتې او جاودانه ژوند ورکوي، او له مرګ څخه به يې مخنيوی کوي، نو پر دې بنا د «اخلده» له لفظه مطلب چې ماضي صيغه ده د – راتلونکي – [مضارع] په معنا ده، د جملې د قرينې «يحسب» له مخې چې مضارع دی. نو نوموړی انسان په دنيا کې د تلپاتې کېدو لپاره، او د لېريو او اوږدو هيلو په پاللو کې، له دنيوي ماله په هاغه کچه چې دنيوي لنډ ژوند او ژرتېرو ورځو ته بسنه وکړي نه قانع کېږي، بلکې په هره کچه چې مال يې زيات شي حرص يې تر بې نهايته زياتېږي نو له ظاهري حالته او پر ځمکه له نښلېدو يې ځرګندېږي چې هغه انګيري مال به، هغه په دنيا کې تلپاتې کړي، او څرنګه چې له خپل تل پاتېتوب او بقا سره مينه لري ټول وخت او فکر د مال په ټولولو او شمېرلو کې مصرفوي او کله چې ډېر مال لاسته راوړي او خپل ځان ناآړمن او بې نيازه احساس کړي، په سرغړاوي او ياغيګرۍ پيل کوي پر نورو برلاسی او لوړتيا کوي لکه څنګه چې د علق سورت کې فرمايي: «... إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى. أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَى.» [علق۷(۹۶:۷)او ۸] انسان [نامنونکی دی] خامخا سرغړونه کوي. [په تېره بيا] همدا چې خپل ځان [له الهي پروا بې اړتيا او] وسمن وويني. او دا استکبار او سرغړاوی چې کوم اغېز پر انسان لري «همز» او «لمز» دی. له دې ځايه ځرګندېږي چې د «يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ» جمله د «الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ» لپاره د علت او لامل په منزلت کې ده، او دا پوهوي چې که د دنيا ناځيز مال جمع کوي او هغه شميري، نو لامل او انګېزه يې هاغه ناسمه او غلطه انګېرنه ده چې لري، او دا عملي تېروتنه د هاغې فکري تېروتنې پر بنسټ ده چې انګېرلې يې دي مال به هغه جاودان او تلپاتې کړي، او هم د «الَّذِي جَمَعَ...» جمله د « وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ.» لپاره د علت او لامل په ځايګي کې ده، او دا پوهوي چې ددې لامل چې په هر همزه او لمزه مو «وَيْلٌ» وويل دا دی چې هغه د دنيا ناځيز او فاني مال جمع کوي او هغه شميري.

نو دا ډول وګړي انګېرې چې مال به هغوی تلپاتي کړي؛ ګومان کوي چې له مال سره به تل تر تله او ابدي شي. هغوی انګيري او فکر کوي چې د هغوی مال به

هغوی ته جاوید او تلپاتي ژوند ورکړي، دا مال او ثروت چې جمع کوي او شمېر يې ورځ تر بلې زياتوي، هغوی ته به تل پاتېتوب ورکړي او اوس چې پيسې لري نور نو مرگ نلري. يعنې د دولت او مال په جمع کولو کې داسې هځاند او ډوب دي چې مرگ يې هډو په ياد نه دی او کله يې هم په فکر او خيال کې نه راځي چې يوه ورځ به دا ټول ترې پاتې کېږي او تش لاس به له دې دنيا روانېږي. شتمني او ثروت هيڅکله نشي کولی مرگ له هغه لېرې کړي، الله تعالی هغه ته څو ورځې مهلت ورکړی او کله چې مهلت يې پای ته ورسېږي، مرگ يې د يوې شېبې لپاره هم نه وروسته کيږي، مرگ به هغه د هغه له ټولو شتمنيو بېل کړي.

دا درې آيتونه، د مطلب د روښانه کولو لپاره که، په اړولي توگه هم ولوستل شي. يعنې لکه څنگه چې مو ورته اشاره وکړه، ولې سړی همزة لمزة کېږي؟ ځکه چې ددې لپاره فطري او دروني ډگر، انگېزه او لمسونه شتون لري. او هغه دا چې انسان غواړي جاويد او تلپاتي اوسي. تاسو پوهيږئ چې شيطان له کومې لارې زموږ پلار او مور ته په جنت کې دوکه ورکړه او هغوی يې وغولول. دوه څيزونه يې هغوی ته وويل؛ دا چې خدای ويلي: دې ونې ته مه نژدې کېږئ ددې لپاره چې نه يې دي غوښتي تاسو ابدي او تلپاتي شئ، او هم نه غواړي تاسو مَلَک شئ، خو هر چا چې ددې ونې له مېوې وخوړله تلپاتي عمر مومي او «مَلَک» کېږي.«...أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ الْخَالِدِينَ.» [اعراف ۲۰ (۷:۲۰)] «مَلَک» يعنې هاغه څوک چې د ځانگړو ځواکونو او برلاسيو لرونکی دی او د پرښتې په څېر «تملُک» لري. وايي هغوی ته يې په همدې خبره فريب ورکړ. دا پيښه په قرآن کې په دوو آيتونو کې راغلې ده چې په واقعيت کې د يوې معنا بيانوونکي دي، قرآن په يو آيت کې د ابليس له قوله وايي چې شيطان هغوی ته وسوسه وکړه: «فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ يَا آدَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَا يَبْلَى.» [طه۱۲۰ (۲۰:۱۲۰)] ورته يې وويل: ای آدم، غواړې چې تاته د تلپاتې کېدو لپاره، يوې ونې ته لارښوونه وکړم که هغه وخورې، داسې تملک او لاسبری به ومومې چې هيڅکله به زوړ نه شي؟ نو څرگندېږي چې بشر دوه انگېزې لري چې بل هيڅ موجود يې نه لري: يوه دا چې غواړي تلپاتي او جاويدان پاتې شي، او بله دا چې غواړي داسې ځواک او لاسبری ولري چې هيڅکله له منځه لاړ نشي؛ په بله وينا، هم بې نهايته زمان او هم بې نهايته مکان غواړي:

«وَمُلْـكٍ لَّـا يَبْلَـى» «مُلـک» يعنـي مکانـت او تمکـن او امکانـات او تملـک؛ او هـم تـل پـاتېتوب او خلـود. پـه قـرآن کـې پـه ځلونـو دا مسـئله يـاده شـوې ده. اتفاقـاً د بنـي اسـرائيلو د هاغـه دينـي عـالِم، بلعـم بـاعورا، پـه اړه يـې هـم همـدا ويلـي دي: «...وَلَكِنَّـهُ أَخْلَـدَ إِلَـى الأَرْضِ ...»[اعـراف ۱۷۶ (۷:۱۷۶)] او هغــه پــه دنيــا کــې تلپــاتېتوب تــه تمايــل وښــود. البتـه مـوږ ټـول پـوهېږو چـې يـوه ورځ بـه مـرو، او هرومـرو بـه لـه دنيـا ځـو. خـو دا يـوازې يـو ذهنـي او نظـري اندنـه او انګېرنـه ده؛ عمـلاً هـيڅ يـو هـم مـرګ نـه منـو. مـوږ انګېـرو چـې د تـل او ابـد لپـاره بـه پـه دې دنيـا کـې پـاتې کېـږو، پـه واقعيـت کـې پـه داسـې ډول ژونـد کـوو چې ګواکې اټکلوو چې تل دلته پاتې شو.

اوس دا درې آيتونه له پاياني لور څخه پيل خوا ته ووينئ: يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ. انسان ګومان کوي چې مال يې تلپاتې کوي، په داسې حال کې چې هاغـه څـه چـې مـوږ تلپـاتي او جاويـدان کوي د آخرت جوړول دي؛ د خير او خدمت پسې تلل دي؛ د خدای د بندګانو په نفع کـار کـول دي؛ د حقيقــت پــه لټــه پســې کېــدل دي؛ د الهــي ارزښــتونو مونــدل دي. «...وَالْبَاقِيَـاتُ الصَّالِحَاتُ...» [کهف ۴۶ (۱۸:۴۶)]. کوم څيزونه چې انسان تلپاتې او ابدي کوي صـالح عمـل او نېکي چارې دي. يعنې نېک کارونه او ښې چارې تلپاتې دي. صـالح عملونـه دي چـې د الله تعالی په نزد تر ټولو اوچت اجر او پاداش لري. خو دا روحيه چې انسـان احسـاس وکـړي چـې وغواړي د تل لپاره په دنيا کې واوسي، څه پايله به ولري؟

پايله يې همدا ده چې جمع مالاً وعدّده. همدا چې هی زور وهي او بېره کوي مال راټـول کـړي او شمېر يې زيات کړي. او وغواړي ميلياردر او لا ميلياردرتر شي. مګر انسان خـو نشـي کـولی په ترتيب پرله پسې په بېره خپله پانګه او شتمني زياته کړي. او دا يو لړ کار او زيار تـه اړيـن دی؛ نو، څه کوي؟ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ کېږي. د نورو په وړولو، يا د هغوی د حقونو پر خوړلـو، ځپلـو او تر پښو لاندې کولو سره، خپل ځانونه پورته کښوي؛ انسانان تحقيروي، ماتوي، او له منځـه يې وړي؛ ښکېلاک[استعمار] او زبېښاک [استثمار] کوي.

که تېر تاريخ ته غور او پاملرنه وکړو دا پېښې ډېرې زياتې مخې ته راځي آيا د دنيا په تېر تـاريخ کې پرته له دې پېښو واقع شوې دي؟ همدا اوس هم د امريکا د ولس په سلو کې يو، [يوازې يو په سلو کې]، د امريکا د شتمنيو په سلو کې د ۷۳ برخې خاوندان دي. د امريکـا د ټيټـې طقبـې په سلو کې لس کسان يوازې يو په سلو کې شتمني لري. يعنې د لوړې طبقې په سـلو کـې د يـو

کس د امريکا د ټيټې طبقې ۷۳۰ چنده شتمني لري! هير نکړو چې دا پرتله د هغوی د خپلې ټولنې په مقياس کې اټکل شوې او ويل شوېده، د جهان په مقياس کې خو تر دې لا هم ډاروونکې ده؛ د شمېرنو له مخې: د ټولې دنيا ۱،۱٪ شتمن خلک د دنيا د ټولې پانګې د ۴۵،۸٪ پانګې خاوندان دي او له بلې خوا د ټولې دنيا د ټيټې طبقې ۵۵ ٪ خلک د دنيا د ټولې پانګې د ۱،۳٪ پانګې خاوندان دي. يا دا چې د امريکا څو فيصده خلک د ټولې دنيا د کابو ۷۵٪ پانګې خاوندان دي.

دا پانګې له کومې لارې لاسته راځي؟ له دې لارې چې مثلاً عراق له ګډوډۍ سره مخامخ شي او پر افغانستان څو ځله د قبضې کولو کوښښ وشي، د جنګونو او تېريو اور بل شي، او د وسلو د سترو کمپنيو محصولاتو د استعمال لپاره ډګر برابر شي، او همدا راز دا ټوله مسئله د پانګې او خامو توکو، نفتو، ليتيم، يورانيوم او نورو توکو پر سر رقابت دی، زموږ د نفتو او نورو قيمتي توکو واک ولې بايد د نورو په لاس کې وي، د دنيا په ټولو هيوادونو کې د ډېريو جنګونو اور د څه لپاره بلېږي؟ د پراختيا غوښتنې او نړۍ خورۍ لپاره. ټول يې د همدغې همزة لمزة، د روحيې لپاره. دا چې غواړي تل زبرځواک اوسي؛ تلپاتې اوسي: ډېرتر او برتر ځواک اوسي؛ د خپلې پانګې سطحه هر څومره چې شوني وي ډېرتره پورته يوسي. څه ډول؟

د نورو هيوادونو د حقونو له چيتولو او ځپلو سره؛ پر نورو د فشار راوړلو، زبېښلو او نښتېځلو سره، د هغوی له ځپلو او ټکولو سره؛ د هغوی د شخصيت ووړولو او تحقيرولو سره؛ د هغوی مخنيوی کول له دې چې پورته شي، او پرمختګ وکړي. دا چې ځينې هيوادونه اتومي ځواک ولري او نور ترې محروم اوسي او د اتومي ځواک له جوړېدو يې مخنيوی وشي يعنې د دنيا نور هيوادونه دا ټيکنالوژي ونلري؟ دا ځکه چې رقابت يې نه پربږدي وايي موږ بايد پر ټولو برتر اوسو. دا خصلت کېدی شي کوم خاص هيواد ته ځانګړې نه اوسي کېدی شي همدا روحيه موږ هم د نورو په نسبت ولرو. په عمومي توګه اصولاً انسان د داسې خصلت لرونکی دی. تل داسې دی چې هاغه څوک چې ځواک ته رسيږي، ځواک ته د نورو له رسيدو مخنيوی کوي. هغوی ځپي او ټکوي؛ هره ډله، نورې ډلې او نورګوندونه او بهيرونه ځپي او ټکوي. له کومې لارې؟ د شخصيت د ترور کولو له لارې؛ د نورو ابرو ريزي کوي؛ د هغوی په خپل قول د افشاګرۍ او بربنډولو له لارې؛ د نورو د روحيې په خرابولو او د هغوی د

فکر او عقيدې په فاسد څرګندولو سره، چې دا ټول يو له بل سره اړيکه او تړاو لري. موږ که په ټولنه کې او يا په نړيواله توګه سياست او د ګوندونو او هيوادونو تر منځ اړيکو ته پاملرنه وکړو، ټول په دا ډول فعاليت او کړنې کوي.

## تل پاتېتوب او څواک ته ميل او رغبت:

ددې سورت درې لومړنې آيتونه، درې مشخص او ځانګړې پراوونه څرګندوي، چې يو له بله پيدا کېږي، د رټنې او ويارسپړنې(عيب څارنې) [همزة لمزة] صفت د مال د راټولونې او د هغه د شمېرنې پايله ده. د مال ډېرښت او تکاثر ته افراطي او انحرافي پاملرنه هم، تل پاتېتوب او خلود ته له مَيل او رغبته او د نشتمنۍ له انديښنې سرچينه نيسي. پر دې بنا د چلن د ناجوړتيا او توکيزوالۍ (ماده ګرايي) ريښه بايد له آخرت او الهي نژدېتوبه، د تل پاتېتوب د غريزې په انحراف کې دنيا او د نفس د هوا لور ته ولټول شي او دا هماغه انحراف او فريب دی چې د لومړي ځل لپاره ابليس، آدم او د هغه جوړه پرې وغولول او له «شجرة خلد» څخه په خوړولو سره يې له جنته وايستل:« فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَانُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُورِيَ عَنْهُمَا مِنْ سَوْآتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَاكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَـذِهِ الشَّجَرَةِ إِلَّا أَنْ تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ الْخَالِدِينَ» [اعراف ۲۰(۷:۲۰)]. نو [له دې ګواښنې وروسته] شيطان هر دواړه وسوسه کړل له بديو يې چې هر څه پر هغوی پټ ول، هغوی ته څرګند کړل، او ويې ويل: ستاسو پالونکي ښتن له دې لامل پرته دې ونې ته [له نژدې کيدو] منعه کړې نه ياست چې [ګوندې] دوه پرښتې شئ يا له تلپاتو اوسئ.

د تاريخ سرکښانو هم تل د داسې وسوسو په غولېدنې کې او د مُلک او تل پاتېتوب په لټه کې د سترو برجونو، کلاګانو او پرتمينو پخو ماڼيو پر ودانولو لاس پورې کاوه چې قرآن د بيلګې او نمونې په توګه د عاد او ثمود قوم ته اشاره کړېده: «أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ. إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ. الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ. وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ» [الفجر۶(۸۹:۶) تر۹] آيا و دې نه ليدل [=پوه نه شوې] چې ستا پالونکي رب د عاد [له قوم] سره څه وکړل؟ [= څه ډول يې د خپلو کړنو په پايلو اخته کړل].ارم [له ښارسره] چې د ستنو [= د ستنو والا ماڼيو] لرونکی وو.دا ډول [ودانۍ او ښار] چې ساری يې په هيوادونو کې [= نورو ښارونو کې] ودان شوی نه و. او هم د ثمود [قام]،

هغو کسانو چې ډېرې به يې [ د ماڼيو او سمڅو د ودانولو لپاره] په وادي کانو [او درو] کې تورولې. « وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ » ـــ [شعراء ۱۲۹ (۲۶:۱۲۹)]. او ټينګې ماڼۍ جوړوئ، په دې هيله چې په دنيا کې به تل ترتله پاتې شئ.

حتا پر الهي آيتونو پوهه او آګاهي هم، که تقوا په منځ کې نه وي، نشي کولی د خاورينې دنيا لور ته د تل پاتېتوب د غريزې له انحرافه مخنيوی وکړي او هغه مهار کړي، د دا ډول سقوط او غورځېدا مصداق، له بني اسرائيلو يو عالِم دی چې پر الهي آيتونو له پوهې او آګاهۍ سره سره يې، ځمکني تلپاتېتوب او خلود ته ميل او رغبت وکړ او د خپل نفس د هوا پلیونی شو.
قرآن دا عبرتناک سرليک د اعراف په سورت کې بيان کړی دی: «وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ. وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ ...» [اعراف ۱۷۵ (۷:۱۷۵) او ۱۷۶]. او دوی ته د هغه [ستر ديني عالم] حال ولوله، چې هغه ته مو [د] خپلو آيتونو [پوهاوی] ورکړی وو، خو له هغه خارج شو! په پايله کې شيطان ورپسې شو او [په دې ترتيب] د بېلارۍ په وادي کې له لار ورکو شو. او که موږ غوښتلی هغه به مو حتمن د هغه په توسه اوچت کړی وای، خو هغه په ځمکه کې د تلپاتېتوب احساس وکړ او د خپل نفس له هوا يې پليوني وکړه...

---

كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ﴿۴﴾

نه، هېڅکله داسې نه ده [چې دوی انګېري]! خامخا [په رښتيني توګه، بې له شکه له داسې ليد سره] به په «حُطمه» (۶) [= د عملونو دوزخ او ماتوونکی اور] کې وروغورځول شي.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ ﴿۵﴾

او ته څه پوهېږې (۷) چې حطمه څه څيزدی [ياڅه څيز ته پوه کړې چې حطمه څه څيزدی]؟

نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ ﴿۶﴾

د الله بل کړې شوی اور دی. (۸)

| كَلَّا | لَيُنْبَذَنَّ | فِي | الْحُطَمَةِ | وَمَا | أَدْرَاكَ |
|---|---|---|---|---|---|
| نه، هېڅکله داسې نه ده | خامخا به وروغورځول شي | په ...کې | حطمه | او څه څيز | ته پوه کړې |

| مَا الْحُطَمَةُ | نَارُ اللَّهِ | الْمُوقَدَةُ |
|---|---|---|
| حطمه څه څيز دی | الهي اور دی | بل کړې شوی |

---

۶ – «حُطَمَه» د «حَطَمَ» له ريښې [مات شول، ميده شول او تر پښو لاندې شول]، لکه د هُمَزَة او لُمَزَة، په څېر مبالغه ده او د ماتېدلو پر شدّت او سختۍ دلالت کوي. له پېغور، توهين، ترخې ژبې او تحقير سره د خلکو د شخصيت ماتول، د عيب پلټونکي او ويارسپري په نفس کې د هماغه خصلت له اغېزو پرته بل غبرګون نلري، چې د «حُطَمَة» په کليمه کې برېښنده او متبلور شوي دي.

۷ – د «ما ادريک» او «ما يدريک» جمله په ټوله کې ۱۶ ځلې په قرآن کې تکرار شوې ده چې ټول يې د قيامت او ماوراء الطبيعه [له طبيعت اخوا] يا د داسې پېچلو علمي چارو په اړه دي چې پوهاوی او درک يې له بشري پوهې سره ناشونی وو او دی. لکه: مَاأَدْرَاکَ: مَا يَوْمُ الدِّينِ، مَا يَوْمُ الْفَصْلِ، مَا الْقَارِعَةُ، مَاالْحُطَمَةُ، مَا الْحَاقَّةُ، مَا سِجِّينٌ، مَا عِلِّيُّونَ، مَا الطَّارِقُ، مَا الْعَقَبَةُ، مَالَيْلَةُ الْقَدْرِ، مَا هِيَهْ[هاوية]، وَ مَا يُدْرِيکَ لَعَلَّ السَّاعَةَ، وَمَا يُدْرِيکَ لَعَلَّهُ يَزَّکَّی ....

۸ – «وَقُودُ» د وقد [د اور بلېدل] له ريښې، خسو خاشاکو او هاغه عامل ته چې اور بلوي ويل کېږي. دا يې حقيقي معنا ده، خو مجازي معنا يې، پرته له دې اوره ده چې مورږ يې پېژنو؛ دا د هاغه اور غبرګون دی چې ستمګران يې په دنيا کې بلوي او هاغه زړونه چې سوزوي. دا الهي اور دی چې له زړونو ژبې او لمبې راوباسي. «نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ. الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ» [همزه ۶(۱۰۴:۶) او ۷]. دا ډول اور چې د الهي ارادې او مشيّت له سرچينې چې، د علت او معلول په نظام کې برېښي، څرګندېږي.

## د همزه سورت له څلورم تر شپږم آيتونو تشريح: [(۱۰۴:۴) تر ۶]

نو، نتيجه به يې څه شي؟ كَلَّا لَيُنبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ. هيڅکله نه! [داسې نه ده]. هغه پرته له شکه [د غړو او اندامونو] د ماتوونکي او ميده کوونکي په توسه ويجاړېږي او لېرې اچول کېږي. داسې نه دی چې دوی يې انګيري، شتمني په هيڅ ډول نشي کولی مرګ له هغوی لېرې کړي.

لکه د مخکينيو سورتونو په څېر چې هلته يې هم وويل كَلَّا، دلته هم وايي كَلَّا لَيُنبَذَنَّ. «نَبذ» يعنې پرېوتل او لېرې اچول. «نبذ» په عربي ژبه کې د يوه بې ارزښته او بې اهميته ګڼل شوي څيز غورځولو ته ويل کيږي، له دې څخه دا نتيجه راوځي چې په دنيا کې د خپل بډايتوب له لامله ځان ډېر ستر ګڼي ليکن د قيامت په ورځ کې به هغه له حقارت او سپکوالي سره په جهنم کې وغورځول شي، لکه خلک چې خپل بې ارزښته او بيکاره څيزونه ډېران ته غورځوي ددې په څېر دی چې سړی ټوپ کړي او په ډېران کې پرېوځي، دوی هم همدا راز په «حُطَمَة» کې غورځيږي. «حُطَمَة» په لغت کې له «هُمَزَة» سره هم معنا دی.

«حُطَمَة» د «حَطْم» له رېښې دی او حَطْم يعني ماتول، ووړول او چيتول، داسې ماتېدل لکه د وچ لرګي يا وچې ګياه ماتېدل. وچې ګياه ته له همدې لامله حُطام وايي، چې وچه شوې ده، ډېر لږ فشار چې ورباندې راوړل شي ماتيږي او ووړېږي. او دا به په داسې يو ځای کې دَرْز وکړي چې په بشپړه توګه به مات شي. د جهنم دا نوم يې ددې لپاره پرې ايښی دی چې هر څيز پکې ورروغورځول شي د خپلې ژورتيا او اور له لامله به يې چيت او مات مات کړي. او ددې واقعيت بيانوونکی دی چې تأثير يې لکه د آسماني برېښنا او سترې چاودنې په څېر دی چې نه يوازې سترې ودانۍ ويجاړوي، بلکې د اوسپنو ميلې او څانګې او سترې پرېړې اوسپنيزې ستنې کږوي او ماتوي.

پـر دې سـکالو پوهېـدل چې اور د سـوزولو پـر ځـای، د بـدن غـړي مـات کـړي ښـايي پـه تېره کې ستونزمن ول، خـو وسـمهال چـې د چـاودنې د څپـو د شـدت اغېـز مـوږ ټولـو تـه څرګنـد شـوی دی، چـې څـه ډول کېـدوني دي لـه يـوې سـترې چـاودنې ولاړې شـوې څپـې [امـواج]، نـه يـوازې انسـانان بلکـې دودانيـو د اوسـپنو کلکـې ميلـې او سـترې سـتنې مـاتې کړي، اوس دا هېښنده سکالو نه ده.

دا کليمـه پـه قـرآن کې پـه دوو نـورو ځـايونو کې لـه پـه زړه پـورې معنـا سـره راغلې ده. يـوه د مېږيـانو لـه ژبـې ده، چـې کلـه حضـرت سـليمان (ع) او لښـکر يـې راځـي مېږيـان پـه خپلـو کـې يـو بـل تـه وايـې چـې خپلـو ځـالو تـه لاړشـئ چـې «لَا يَحْطِمَـنَّكُمْ سُـلَيْمَانُ وَجُنُـودُهُ» [نمـل ۱۸ (۲۷:۱۸)] داسـې نـه چـې سـليمان او د هغـه لښـکريان تاسـو چيـت کـړي. او بلـه د منـي او خـزان د موسـم پـه اړه ده چـې څـه ډول د منـي تيـز او تـريخ بـاد د ونـو پـاڼې او ګـلان او څـانګې «حُطـام» کـوي. «...ثُـمَّ يَهِـيجُ فَتَـرَاهُ مُصْـفَرًّا ثُـمَّ يَجْعَلُـهُ حُطَامًـا...» [زمـر ۲۱ (۳۹:۲۱)] يعنـې د منـې بـاد چـې اوچتېـږي وچـې پـاڼې لـه ونـو رابيليږي او په حُطَمَة کې اچول کيږي.

مـوږ پـوهيږو چـې اخـروي عـذاب د دنيـوي عمـل تجسـم دی. دا وګـړي هـم لکـه څنګـه چـې پـه خپـل ژوندانـه کـې يـې خلـک مـاتول او چيتـول، دوی بـه پخپلـه هـم پـه حُطَمَـة، کـې چـې مـاتوونکی او ووړوونکـی دی ورروغورځـول شـي او مـات او ټوټـه ټوټـه بـه شـي. هغـوی چـې د نـورو لـه تحقير کولـو او ځپلـو پرتـه نـور څـه نـه کـول او نـه يـې غوښـتل، نـو د هغـوی د شخصيت او عمـل پايلـه بـه، هغـوی تـه څرګنـده شـي او د تـاريخ پـه ډېـران کـې بـه

وغورځول شي؛ او هغوی به د نړۍ د تغير نه منونکو قوانينو په توسه، چې الهي قوانين دي، چيت او مات شي.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ. او ته څه پوهېږې چې حُطَمَه [ماتوونکې او وړوونکې] څه څيز دی؟ مخکې مو ويلي دي چې په قرآن کې د مَا اَدْرَاکَ تعبير ډېر کارول شوی دی. دا پخپله له معنا ډکه خبره ده چې کوم څيزونه دي چې الله وايي ته پر دې نه پوهېږې. ستا له پوهاوي او ادراکه ډېره اوچته خبره ده. دا عبارت په قرآن کې ۱۳ ځلې راغلی دی مثلاً: وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ. [قدر۲ (۹۷:۲)] يا وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ. [قارعه۳(۱۰۱:۳)]، يا وَمَاأَدْرَاكَ مَا هِيَهْ. [قارعه۱۰ (۱۰۱:۱۰)] يا وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ.[انفطار۱۷ (۸۲:۱۷)] يا وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ. [مرسلات ۱۴ (۷۷:۱۴)] دا هاغه ښکارندې او پدېدې دي چې زموږ لپاره د پوهاوي او درک وړ نه دي، ناشوني ده چې په اړه يې يوه ساده علمي توضيح ورکړل شي. داسې يو عامل او نظام او قانونمندي لري چې زموږ لپاره ناپېژاندي دي. دا سړي چې عيابې او ويار سپړنه کوي، ماتيږي، ميده کيږي. څه ډول؟ موږ نه پوهيږو.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ. يوازې يوه توضيح ورکوي: نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ. هغه ماتوونکې او ميده کوونکې د الله بل کړل شوی اور دی. دا ډول اور چې له الهي ارادې او مشيّت څخه، سرچينه نيسي او د علت او معلول په نظام کې برېښنده ځرګنديږي. الله ته ددې اور نسبت ورکول او دا ډول يې الله ته ځانګړی کول ددې واقعيت بيانوونکی دی چې دا اور يوازينی او ځانګړی دی، او ددې په څير بل ځای کې نه دی ليدل شوی. سربېره پر دې دا رسوي چې دا اور ډېر ډاروونکی، هيبت ناک، او وحشت اچوونکی دی. «حُطَمَه» داسې زيات اور دی چې هر څه سوځوي، ماتوي او له منځه يې وړي، د جهنم هماغه اور چې تا پخپله بل کړی دی، هماغه اور دی چې زړونو ته لار مومي او پر زړونو راخيژي. نو دا اور پر داسې زړونو خپور او برلاسی کيږي، چې عيب خارنو، ويار سپړنو او پيغورګريو ترې سرچينه نيولې.

د اور تعبير په نارُاللّهِ د هغه پر عظمت دلالت کوي او تعبير يې په «مُوقَدَه» د هغه پر تلپاتې برېښندوالي او ځلاندوالي دلالت کوي. نو، دا الهي اور دی، او له دا پېژندل شوو اورونو چې موږ يې په دنيا کې پېژنو نه دی، ځکه چې پيلامه او سرچينه او اصلي لامل يې خدای ته نسبت ورکوي، يعنې هاغه چا ته چې د جهان قانون يې

جوړ کړې دی. په قرآن مجيد کې له دې ځای پرته بل کوم ځای کې د جهنم اور ته د الله اور نه دی ويل شوی نو دلته يې الله ته له نسبت ورکولو څخه نه يوازې د هغه د ډار او هيبت څرګندونه کيږي، بلکې دا هم څرګنديږي چې د دنيا د دولت او شتمنيو په درلودلو سره پر غرور او تکبر اخته شوو کسانو ته څومره د نفرت او غضب په سترګه ويني له کوم لامله چې اور ته يې خپل اور ويلی دی او دا ډول انسانان به پکې اچول کيږي. «مُوقَدَة» يعنې بل شوی. يعنې هاغه اور چې په واقعيت کې د انسان د استعداد او وړتيا له ډکرونو سره تړاو لري نه د هغه له فاعلي ډکرونو سره. فاعل يې الله دی. داسې يو قانون او نظام دی چې خدای د انسان لپاره ټاکلی چې شونی دی له بد عمل سره يې د هغه ونډه او استحقاق ور په برخه شي. د ساري په توګه زهرو ته پاملرنه وکړئ: دا فاعلي عامل دی، لکه د پاتې شوې او فاسدې غذا په څېر چې مسموموونکې ده، اوس نو که چا دا خواړه وخوړل، هرومرو به يې زهر په بدن کې سرايت وکړي. دا اور هم همداسې دی. نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ. الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ دا د الله بل کړل شوی اور دی چې پر قلبونو، پر زړونو او پر اروا راخيژي او خپريږي.

---

الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ ﴿۷﴾

هغه [اور] چې پر زړونو راخيژي [او برلاسی کيږي] (۹)

إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ﴿۸﴾

په حقيقت کې دا [اور] پر دوی ګومارل شوی [او د پوښ په څېر پرې ګرد چاپېره بند دی]. (۱۰)

فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿۹﴾

[داسې اور چې] په اوږدو [هسک څکو] ستنو کې [لمبې کوي] (۱۱) [= غځېدلي دي].

| مُؤْصَدَةٌ | عَلَيْهِمْ | إِنَّهَا | الْأَفْئِدَةِ | عَلَى | تَطَّلِعُ | الَّتِي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ګومارل [بند] شوی دی | پر دوی | په حقيقت کې دا | زړونو | پر | بر لاسی کيږي | هغه چې |

| مُمَدَّدَةٍ | عَمَدٍ | فِي |
|---|---|---|
| لوړې [اوږدې] شوې | ستنو | په ... کې |

---

۹ – «تَطَّلِعُ» همدا طلوع [له افقه د لمر سر را ابسېتل او په تدريج ورو ورو پر طبيعت خپرېدل] او ختل دي. د افتعال په باب کې راتلل يې، يو ډول منبنت [لکه اشتعال] رسوي. د نورو د شخصيت ماتوونکو ځانپالو خُلق او خوی، په تدريج ورو ورو لکه د لمر د طلوع او ختو په څېر د هغوی په روح او روان خپريږي او ټول وجود يې نيسي.

۱۰ – «مُؤْصَدَه» [مفعول اسم] د «اوصد» له ریښې [دروازه یې وتړله، هاغه څوک چې په تنګیا کې واقع وي، سرپوښ یې کېښود او ...] د عملونو د زندان د دوازې پر تړنې او له هغه څخه د وتنې په ناشونتیا دلالت کوي [مائده ۳۷(۵:۳۷)، حج ۲۲ (۲۲:۲۲)، سجده ۱۲ (۱۲:۳۲تر ۱، فاطر ۳۷(۳۷:۳۵)، مؤمنون ۱۰۷ (۱۰۷:۲۳) او غافر ۱۱ (۱۱:۴۰)].

۱۱ – ستنې د هرې ودانۍ لپاره د ساتونکي رول او دنده لري، غځول شوې ستنې «عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ» د هاغو دوزخي شرایطو او چاپېریال د ساتونکو عاملونو پر اوږدوالي او تلوالي دلالت لري.

## د همزه سورت له اووم تر نهم آیتونو تشریح: [(۱۰۴:۷) تر ۹]

نو دا داسې اور دی چې الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ. «تطلع علی ...»: خپرېږي پر...[راخیژي او برلاسی کیږي پر...]. «تَطَّلِعُ» له اطلاع څخه دی چې یوه معنا یې ختل او پورته کېدل دي، او بله معنا یې ځرګندېدل، خبرېدل او اطلاع موندل دي. «تطلع» د «طلوع» افتعال باب دی. لمر څه وخت طلوع کوي؟ د لمر طلوع د شپې په تیاره کې دی هغه مهال چې شپې او تیاره ټول ځایونه نیولي دي؛ خو کله چې لمر راوخېژي، نو وړانګې یې، د شپې پر ځای، ټول ځایونه رانغاړي او پر ټولو ځایونو برلاسی کیږي. دا اور هم پر زړونو راخېژي او هغوی په ځان کې پټوي. یو زنګ په زړه کې پیدا کیږي چې ورو ورو هغه ټول زړه رانغاړي. په روایت کې دي چې زړه یو سپین ټکی دی چې له ګناه سره ورو ورو توریږي، ددې په څېر چې مخ یې دوړې ونیسي یا زنګ پرې کېني. ورپسې داسې حالت ته رسیږي چې ټول زړه زنګ وپوښي، په داسې ډول چې قلب [زړه] نور، قلبي [اړولی] ماهیت او بڼه غوره کوي. نه د کوم نور وړانګې د هغه داخل ته لار مومي او نه توروالی ترې لیرې کیږي. دا د طلوع معنا ده. طلوع یعنې خپرېدل، برلاسي کېدل، چیره کېدل. دا بشپړ اور، «افئده» رانیسي، پرې راتاویږي او هغه رانغاړي.

«افئده» د فواد جمع دی چې معنا یې زړه دی، یعنې قلب او په حقیقت کې د انسان د ذهن او شعور او ادراک، غوښتنو، عقیدو، فکرونو، نیتونو او ارادو مقام دی یعنې د انسان شخصیت. دې اور، ددې سړي ټول شخصیت [چې همزة او لمزة دی،] نغاړلی دی او خپله هغه ته، او د هغه ذات، ضمیر او طبیعت ته یې تغیر ورکړی دی. ټول عمر یې نور تحقیر کړي دي او د هغوی حقونه یې تر پښو لاندې کړي او ځپلي دي نو اوس یې نور له انسانیته څه پاتې نه دي. لکه د ډېرو هیوادونو واکمنان چې حتا پر خپلو خپلوانو یې هم رحم نه کاوه او هسې پر وړې پلمه به یې خلک وژل حتا خپل ورونه به یې له دې وېرې وژل چې پخپله په ځواک کې تلپاتې شي او اوس هم په دې عصر کې د واکمنانو په توسه د خلکو ډله ایزې وژنې دوام لري او

صغیر او کبیر، نرینه او ښځینه وژني. دداسې خلکو په وجود کې اصلاً عاطفه او احساس نه پاتې کیږي، موږ ټول له دې اطلاع لرو چې ددغو ظالمانو په توسه په افغانستان، فلسطین، په ځانګړې توګه د غزې په تراږه کې، او نورو مظلومو هیوادونو کې د امریکایانو، روسانو، اسرائیلو او د هغوی د ګوډاګیو مشرانو په توسه څومره ظلم او بمبارد شوی او لا کیږي، څومره کیمیاوي وسلې استعمالیږي، دا ټول ددې لپاره چې پر نورو برلاسي وي او تر بل هر چا ډېر ځواکمن اوسي.

وایي چې دې ډول کسانو نور خپل ټول الهي او معنوي امکانات سوزولي. او په واقعیت کې اوس همدا الهي اور دی چې له زړه یې غرغنډې او لمبې راوباسي. داسې فکر ونکړو چې دا داسې یو اور دی چې له بیرونه انسانان له لاس او پښو ونیسي او په اور کې یې ورواچوي. وایي؛ دا داسې یو اور دی چې ستا په خپل وجود کې دننه دی. او که پاملرنه وکړو، هاغه بیروني اور هم زموږ پر عصبي سلولونو اغیز کوي او د هغه پیغام زموږ مغز ته رسیږي او مغز یې تفسیر کوي او فرمان ورکوي چې اوس باید بدن د درد او سوزش احساس وکړي. یعنې دا ټول زموږ دنني فعل او انفعالات [کړنې او کړن پایلې] دي. هاغه پیښې دي چې زموږ د مغز په سلونونو کې دننه رامنځته کیږي. پر دې بنا، که یو چا پخپله خپل سلولونه خراب کړي دي، درد دهغه پر ټول وجود راخپژي، خپریږي او برلاسی کیږي.

نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ. الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ. دا زړه دی چې سوزیږي. دا د پښېمانۍ او افسوس احساس دی چې لواړیږي او څرګندیږي او سوزول کوي. د وجدان کړیکه ده چې اور بادوي. موږ تل بیروني او ظاهري اورونو ته پاملرنه کوو او له هاغو اورونو چې ډېری یې زموږ په وجود کې دننه دي غافل یو. انسان له هماغه بنسټیز لامله چې د ځانګړې روح لرونکی دی؛ دوه ډوله لذت [خوند] او دوه ډوله رنځ او تکلیف لري، انسان جسماني لذت لري لکه هاغه لذت چې د یوې غذا یا خوراک له خوړلو یې وړي، او روحاني لذت لري د بیلګې په توګه هاغه لذت چې له یو بشارت او زیري څخه هغه ته پیدا کیږي. که کوم زده کړیال ته چې په کانکور کې یې ګډون کړی خبر ورکړي چې بریالی شوې، کوم خوند او لذت چې هغه ته حاصلیږي روحي لذت دی. روحي لذت او جسمي لذت څو توپیره یو له بل سره لري. یو له توپیرونو دادی چې جسمي خوند یو جسماني پاروونکي ته اړتیا لري. مثلاً که یوه غذا وي چې انسان هغه په خوله کړي او بیا یې وژوي، هغه وخت دا غذا د انسان پر اعصابو تأثیر او اغیز کوي چې انسان خوند واخلي. نو خارجي محرک ته اړتیا لري. سربیره پر دې «عضوي» دی

یعنې یو ټاکلی غړی خوند اخلي. هغه مهال چې انسان غذا خوري د هغې خوند په خوله کې احساسوي، په نورو غړو مثلاً لاس یا پښو کې یې نه احساسوي. همدا راز که انسان مثلاً لاس یې په داسې جسم کېږدي چې خوند ترې واخلي، بیا هم همدا لاس یې دی چې خوند اخلي نه سترګې یا غوږونه یې، یعنې عضوي جنبه لري. جسماني درد هم همدا راز دی. د جسماني درد لپاره هم خارجي پاروونکی او محرک په کار دی، د بېلګې په توګه یو اغزی چې د انسان په پښه کې ځي، او هم دا چې عضوي دی یعنې د انسان د جسم هر ځای او هر غړی چې درد ونیسي هماغه ټاکلی غړی یا ځای درد کوي. یو مهال د سړي سر درد نیسي، کله هم معده، یو مهال ځيګر، کله لاس او کله هم د انسان پښه درد کوي.

روحي خوندونه او لذتونه مادي هڅوونکی او محرک نلري، ددې لپاره چې کله انسان له یو خبر یا یو خیال [خوند اخلي.] د یو کتاب لوستلو په حال کې دی، یو مجهول لري، یو څیز ورته ناحل دی، مثلاً یو څېړونکي او اندیال له ځان سره فکر کوي، او کله چې یو ناڅاپه ددې مجهول لپاره حل لار پیدا کړي، په خوند کې ډوبېږي. دا خوند خارجي محرک نلري، او سربېره پر دې عضوي هم نه دی. سړی نشي کولی احساس یا څرګند کړي چې دا خوند د کوم غړي په توسه اخېستل کېږي، نو ددې خوند ځایګی چرته دی. انسان په خپل ټول وجود خوند اخلي. کله چې انسان ته له یوه راتلونکې زېری ورکړي [هغه خوند اخلي.] فرض کړئ کوم ناروغ چې اټکلوي، ناروغتیا یې سرطان دی، او ازمایښت یې ورکړی وي او د یو تشویش په حال کې دی کله چې د ازمایښت نتیجه یې راورسېږي او ورته وویل شي چې ته روغ یې، دا ناروغتیا سرطان نه دی، هغه خوند اخلي. نو د بدن کوم غړی یې خوند اخلي؟ لاس یې خوند اخلي یا ژبه یې یا معده یې او یا مغز یې؟ هیڅ یو، بلکې ټول وجود یې خوند وړي.

روحي دردونه هم همدا راز دي. د انسان روحي درد هم، عضوي جنبه نلري، او کله کله هم دا ډول یې د انسان لپاره دردناکتر او ناراحت کوونکي دي چې هیڅ جسمي درد هغې ته نه رسېږي. سړی کله چې داسې کسان ویني چې کوم مهال په روحي ناراحتۍ اخته شوې وي، په دوو درې ورځو کې اصلاً ددې په خبر کېږي چې ته به وایې دا سړی بیخي بدل شوی دی. کله کله شرم او خجالت په واقعي توګه تر دې بریده موذي او ازار ورکوونکی دی چې که یو چا ته ووایي تا د یوې دقیقې لپاره په اور کې اچوو یا دا چې دا شرم او خجالت وکاږه؟ حاضر دی چې اور ته داخل شي. ومو ویل ځینې کسان د خلکو له ربړ او رنځه خوند اخلي خو نه داسې ربړ او زحمت چې مثلاً یو څوک په څپېړه یا متروکه ووهي. چې دا هم ډېر بد چار دی، خو دا

کسان له دې خوند اخلي چې د خلکو په زړونو اور بل کړي؛ وايي له دې چې اور مې پرې بل کړ خپل زړه مې يخ شو. قرآن وايي يو اور هلته هم شته دی چې هاغه اور هم ستا د زړه او روح له تله راوځي؛ او هغه له جسماني اورونو ډېر اوچت تر او سختتر يو اور دی.

إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ. [مُؤْصَدَةٌ] د «ايصاد» له بيخه د ور د تړلو او بندولو او د هغه د کلکولو په معنا دی، او له همدې کبله هغه وړې کوټې چې د غرونو په منځ کې به يې د ځيزونو د ټولولو او پټولو لپاره رامنځته کولې، «وصيد» ويل کېده. په حقيقت کې، لکه څنګه چې هغوی خپل مالونه په سترو صندوقونو او خزانو کې ساتل، الله تعالی هم هغوی ور تړلي او سر پټې دوزخ کې چې د خلاصون او ژغورنې لار ترې نشته، زنداني کوي. دا داسې اور دی چې تاو شوی، نښتی او تړل شوی دی. يعنې داسې څيز نه دی چې له ما ببل وي او زه وکولی شم ترې وتښتم يا ځان ترې لېرې وساتم. دا اور د انسان پر وجود ګرد چاپېره تاو شوی او د بند ور په څېر تړل شوی دی. «مُّؤْصَدَةٌ» يعنې داسې يو څيز دی چې ببلښت ترې ناشونی دی. بيا هم دا تعبير يو ځانګړی تعبير دی؛ دا اور پر دوی راتاو شوی دی. په دې معنا چې له ټولو اړخونو پرې راتاو دی. يو مهال داسې وي چې فرض کړئ سړی په اور کې اچوي او تر پښو لاندې يې اور پورته شوی وي؛ يا کله هم کېدی شي سړی په سور يا داغ ديوال پورې ونښلوي؛ او يا يو مهال له اړخونو، له ښکته او پورته له ښي او کيڼ او تر پښو لاندې او د سر له پاسه، له هر لور ورته اور بل دی. دا اور د خلکو پر روح لګېږي او بلېږي، او د خلکو روح ته اور اچول کېږي، هغه څوک چې روح ته يې اور ورواچوي هغه له کومه ځايه او يا کومې لورې اور احساسوي؟ د روح له پاسه يې؟ د روح له ښکته يې؟ د ښي يا کيڼ لاس له لورې يې؟ له هر ځايه، سر تر پايه له هر لور په واقعيت کې روح يې په ټوله کې په اور کې ننوځي. په آخرت کې د داسې اور تجسم دادی چې ته پخپله په داسې اور کې ايساربږې، او اور ستا له دننه راولاړېږي.

فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ. د کش شوو اوږدو پايو په منځ کې. «عَمَدٍ»: د عمُود جمع، ستنې. «مُمَدَّدة»: اوږدې، غځول شوې. د جهنم سوزونکي لمبې د کش شوو اوږدو ستنو په بڼه، پر دوزخيانو راتاوې دي او هغوی يې نغاړلي دي. په دې توګه يې تجسم کوي چې په يوه فضا کې ولاړې ستنې او چتونه وي، اوږدې ولاړې ستنې او دا سړی يې کلک تړلی دی په همدې منځ کې ايسار دی، نه له دې خوا د وتلو لار لري او نه له هغې خوا. يو اور په اوږدو او کش شوو ستنو کې. دداسې يو چا په څېر چې اسير شوی دی، او دداسې يو زندان تر چت لاندې دی چې پر هغې له پاسه ګومارل شوی دی او هغه چت پر ډېرو اوږدو ستنو ولاړ دی.

د جهنم اور، يو سرپټی او ور تړلی اور دی او له هرې لورې کافران محاصره او ايساروي، د دوزخ ټولې دروازې تړلې دي او هيڅ د تېښتې لار هلته نشته. داسې يو اور چې د اوږدو غځول شوو ستنو په څېر يې، لمبې ايستلې دي. کافران د تل لپاره هلته سوزېږي او هيڅکله ترې نجات او ژغورنه نه مومي.

قرآنکريم په ځلونو دې ته ورته بېلګې راوړې دي. وايي هغوی فکر کوي چې کولی شي له داسې چاپېرياله وتښتي، په داسې حال کې چې له هغې د تېښتې لار نشته. مثلاً د بني اسرائيل په اړه چې ددوی ترمنځ تل دښمني او عداوت دی: «كُلَّمَا أَوْقَدُواْ نَارًا لِّلْحَرْبِ» [مائده ۶۴(۵:۶۴)] — [د نړيوالو جنګونو اور دوی بل کړ او ميليونونه کسان يې له منځه يوړل او خومره کورنۍ يې بې پالوني کړلې. يوازې ستالين شپږ ميليونه انسانان له منځه يوړل] — ورپسې وايي هاغه د فتنې اور يې چې ولګاوه اوس به د هغوی خپل وجود ونيسي.

له دې راز آيتونو ډېر زيات په قرآن کې راغلي دي: يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُواْ مِنَ النَّارِ غواړي چې له دې اوره خارج شي وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنْهَا او په داسې حال کې چې له دې اوره راوتونکي نه دي. وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ. [مائده ۳۷(۵:۳۷)] او دوی لپاره مقيم عذاب دی، دا «مقيم» [استوګن] عذاب دی، يعني د هغوی په وجود او ذات کې يې ځای نېولی دی.

يا وايي هر مهال چې وغواړي له دې غم او سختۍ راووځي، د هاغه سړي په څېر چې په غم او خپګان اخته شوی وي او وغواړي له هغې وتښتي او ځان تر بچ کړي — [په داسې حال کې چې دنيوي غم او خپګان خو د ابدي تلپاتې عذاب سره د پرتلې وړ نه دی] — «كُلَّمَا أَرَادُوا أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ» هر وخت غواړي له دې غمه خلاص شي، «أُعِيدُوا فِيهَا وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ» [حج ۲۲(۲۲:۲۲)] هغه ته يې بېرته ورستنوي، د هاغه ځوراند او خواشيني کووونکي فکر په څېر چې ناشوني ده ترې وتښتي، ځکه چې تل پرې يرغل کوي؛ د هغه خپل روان او اروا ده چې غلبه کوی او پرې برلاسی کيږي او د هغه په خپل اختيار او اراده کې نه دی چې ځان ترې وژغوري. په دې عذاب کې، ددغه شخص طبيعت او وجودي ماهيت دی چې څرګنديږي.

په قرآن کې ډېر آيتونه لرو چې بيانوي؛ دا عذاب او اور ذاتي دی او له بيرونه کوم څيز او چار نه دی چې تېښته ترې شوني وي. د سوزول شوي او اور لګېدلي ذات غلبه ده. هاغه روح چې په حقيقت کې په دنيا کې له خپلو اورلګيتونو او د نورو له سوزولو سره يې پر خپل ځان اور بل کړی دی او اوس يې پايله ويني.

د وجداني عذاب دننی اور:

هاغه تعريف چې د سورت په پای کې يې له «حطمه» څخه د ستر او عظيم عذاب په توګه چې د درک او تصور وړ نه دی وړاندې کړی دی « وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ »، په اجمالي توګه د هغه کيفيت څرګندوي. دا عذاب د خدای بل کړی اور دی چې له يوې مخې پر زړونو راتاوېږي او بر لاسی کېږي (راخېژي) چې پر هغوی يو ډول په کش شوو او اوږدو ستنو کې ګومارل شوی او تړل شوی دی چې له هغې څخه د خلاصيدو او ژغورنې لار ناشونې ده. « وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ. نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ. الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ. إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ. فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ.»

دا عذاب د کافرانو د کړنو له غبرګون او د هغوی د دنيايي لاسته راوړنو له پايلو پرته نور څه نه دی او دا د هاغه اور لمبې دي چې پخپله يې په دنيا کې بل کړی دی او په قرآن کې د «نار» او «وقود» دوو کليمو ترکيب [د اور بلول] د جهنم پر عذاب سربېره، د هاغه اور په اړه چې انسانان يې په دنيا کې بلوي هم کارول شوی دی: «...كُلَّمَا أَوْقَدُوا نَارًا لِلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا اللَّهُ...» [مائده ۶۴(۵:۶۴)] ـ هر مهال يې چې د جنګ لپاره کوم اور بل کړ خدای هغه (اور) مړ کړ.

«قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ. النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ.» [بروج ۵(۸۵:۵)] ـ د اخدود اصحاب ووژل شول (په) بل شوي اور کې. (او يا: د اخدود د اصحابو مرګ په بل شوي اور کې)

همدا د جنګونو اور چې په دنيا کې له دښمنۍ، ځناورتوب او داړلو سره يې بلوي او انسانان د هغې په لمبو کې وژنې او ګورستان ته يې لېږي، په آخرت کې د هغوی د خپلو وينښ شوو او وېښيار شوو زړونو له د ننه د وجدان د عذاب په بڼه زبانه او غرغنډې وباسي او د هغوی دننه سوزوي. د «تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ» د انسان پر فؤاد (زړه او دننيو ځواکونو) ددغې عذاب پرله پسې طلوع او راختنه، لمر ته په تشبيه کې ښکاره کوي، چې له اوږدې شپې وروسته په ګهيځ کې څرګندېږي او له خپلو بر لاسو وړانګو سره هر څيز روښانه کوي. دا عذاب سره له دې چې په دنيا کې د کافرانو لپاره پټ وو خو په آخرت کې د غيب د پردو له لېرې کېدو سره طلوع کوي او څرګندېږي او پايلامې او اغېزې يې کافران رانغاړي.

پورتنی آيت [...كُلَّمَا أَوْقَدُوا نَارًا لِلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا اللَّهُ...] دمائده په سورت کې، د هاغو يهودانو په اړه دی چې له ګناه، بډې اخېستلو، دنيا پالنې، د اړمنو له لاسنيوي څخه مخنيوي او ډډې کولو سره، [د انفاق په فرمان کې] د خدای فقير ګڼل، د ټولنيزو مسئوليتونو او فرضونو په نه اداء کولو کې کفر او طغيان ته وکښل شول او ددغې عمل [د محرومينو سرليک ته په نه پاملرنه او د طبقاتي اختلاف د لواړېدلو] په نتيجه کې د هغوی تر منځ دښمنۍ پايندويه شوې او په

ټاټوبې کې يې نا پايه جنګونو، فساد او تباهۍ ته ورسېدل. [د مائده سورت د۶۴ آيت مضمون]. پر دې ترتيب څرګندېږي چې څه ډول د مال او شتمنۍ او د هغوی شمېرنې ته د وګړيز ميل او رغبت شاليد او ډېر له نورو سره په اړيکو کې د چلند ناسموالي ته کښنول کېږي [همزة لمزة]، چې پايله يې پوړيز او طبقاتي بغض او کينې او د جنګ او وژنې لواړېدو تـه رسېږي. د دا ډول کږېدنې او انحراف اور، ورو ورو په تدريج له هماغه راټول شوي مال سره لګيږي او بلېږي او په تدريج د هغې سرکښې او غړاندې وړانګې هر چا ته او هر ځای ته سرايت او اغېز کوي. «إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا وَأُولَئِكَ هُمْ وَقُودُ النَّارِ» [آلعمران۱۰ (۳:۱۰)]. بېشکه هاغو کسانو چې کفر وکړ، مالونه او اولاد [= شتمني او پانګه او د ځواک ملاتړ] به يې هيڅکله له خدايه ناړمن نکړي او همدا دوی د دوزخ سونګ توکي دي.

دويم مورد چې په دنيايي ژوند کې د اور له بلولو شاهد راوړي، د بروج سورت ړومبنې آيتونه دي چې له يو شمير مؤمنينو څخه [ستمګرو پوشالي ځواکمنانو ته د تمکين پر ځای] عزتمند ستايل شوي خدای ته د ايمان په جرم د اور په کندو کې له سوزولو يادونه کوي. په داسې حال کې چې ددغې جنايت عاملين او سرته رسوونکي د ژورې کندې ګرد چاپېره د ددغې ډاروونکې صحنې نندارچيان او شاهدان ول.

«قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ. النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ. إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ. وَهُمْ عَلَى مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ. وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ...» [بروج ۴(۸۵:۴)] ووژل شول د کندې ياران [=په کنده کې اچول شوي مؤمنان] [په ټوليزو قبرونو کې د سوزولو او ښخولو لپاره]،[له هماغه] بل شوي (ډېر) سونګ اور سره په داسې حال کې چې [د اور بلوونکي له ډېرينو زړونو سره د هاغې صحنې د ننداري لپاره] د هغې پر څنډو [ګرد چاپېره] ناست ول. او دوی پخپله د هاغه څه شاهدان [=نندارچيان] ول چې پر مؤمنينو يې کول.او له مؤمنينو يې کسات له دې [جرم] پرته نور څه نه ول چې په برلاسي ستايل شوي الله يې ايمان راوړی وو....

هاغه ژمنه چې ددغه راز جرم له حالت سره سم او د مؤمنينو د سوزولو د طبيعي غبرګون په عنوان د پورتنيو آيتونو په ادامه د هغې عاملينو او کړنوالو ته ورکړل شوی دی، سمدم پخپله هماغه دی چې د اور په بڼه د هغوی له خپلې لمنې راتاويږي. «إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ» [بروج ۱۰(۸۵:۱۰)] په حقيقت کې هغوی مؤمنان او مؤمنانې [نرينه او ښځينه مؤمنين] وربړول، او وروسته يې [له دې

کاره هم] توبه ونکړه [= لاس يې وانخيست]، د دوزخ اور د هغوی [په انتظار کې] دی، او [دمؤمنينو د سوزولو په جزا کې] د هغوی لپاره به د حريق عذاب [=سوزنده اور] وي.

پر دې ترتيب څرګنديږي چې د هر چا د عذاب ډول د هاغه ظلم او ستم له ډول سره متناسب دی چې پخپله يې سرته رسولی دی او د قرآن په تعبير اورلګيت يې هم پخپله انسان دی «...وَأُولَئِكَ هُمْ وَقُودُ النَّارِ» [آل عمران ۱۰ (۳:۱۰)] اوس چې داسې ده، نو بايد له هاغه اوره پرهېز وکړو او ترې ځان وژغورو چې له انسانانو او تيږو سره بليږي: «فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ....» [بقره ۲۴ (۲:۲۴)] او [تحريم ۶ (۶۶:۶)]

له کومې چې دا ډول اور د هاغو سخت زړو او بېرحمو له ډېرينو زړونو څخه لمبې او غرغنډې راوباسي، عذاب يې خارجي نه دی چې ترې راووځي او يوې څنډې ته شي. دا اور چې له ظالمانه ضمير څخه ژبې او غړانګې راوباسي د هغوی وجودي ملتيا لري او پر هغوی له طبيعي تړل کېدو سره پر ټول وجود يې مسلط او برلاسه کېږي [انها عليهم مؤصده]. پر همدې دک و دليل هم قرآن د کافرانو وتل له داسې اور څخه د هغه د ماهيت په دليل چې له خپل دننه ځان څخه يې د لوړو ستنو په څېر لمبې او غرغنډې راوباسي، ناشوني ګڼي. ښايي د غځېدلو ستنو سره تشبيه کول [فی عمد ممده] د جبارانو او ظالمانو د سترو او اوچتو ماڼيو ستنو ته اشاره وي چې د دغو سترو او آسمان څکو ماڼيو پر بنسټ او پناه کې يې خپلو حکومتونو ته ټينګتيا او کلکوالی ورباښه. (والله اعلم)

لنډه دا چې دا دواړه سورتونه، د «همزه» او «عصر» سورتونه، چې يو پر بل پسې راغلي دي، بيا بايد يو تر بله مقايسه او پرتله کړو او څو نور سورتونه چې لوستلي مو دي د «زلزال» او «عاديات» او «قارعه» او «تکاثر»، دا ټول يو له بل سره ولېدل شي، چې روښانه شي چې دا ټول د يو حقيقت او يو مطلب بيانوونکی دی خو له راز ګوټونو. نو وګورئ دا همزه او لمزه، دا د خلکو د عيّابی، عيب خارنې، ويار سپړنې، غيبت، او بد ستاينې ناوړه او بد عادت، د قرآن له نظره څومره ستر عيب دی! په واقعيت کې که انسان غور وکړي دا يوه هينښنده ناروغتيا ده. انسان څومره بايد بيمار وي چې د خلکو له رنځولو خوند واخلي؟ چون خوند اخېستل تغذيه ده خو د روح تغذيه. د سړي روح چې له هر څيز خوند اخلي روح يې تغذيه کوي يعنې سمدم د غذا په څېر يې روح ته جذبيږي. سړی چې غيبت کوي او له غيبت کولو خوند اخلي، همدا ځورول روح ته جذبيږي سم لکه د غذا خوړولو په څېر چې بدن ته جذبيږي. يوازې توپير يې دادی چې غذا له يو لور مصرفيږي او له بل لور جذبيږي خو روح

مصرف نه کوي پرله پسې جذب کوي. انسان باید څومره بدبخت او بد مرغه وي چې د خلکو له آزار رسولو، د خلکو له ځورولو، د خلکو له آبرو اخېستلو او د خلکو لـه بې حیثیت کولـو او بې شخصیت کولو څخه خوند واخلي او تغذیه وکړي.

## تذکر او انتقاد غیر له عیب ښارنې او ویار سپړنې دی:

خو دا موضوع د تذکر له مسئلې بېله ده چې په ځانګړو شرایطو کې د ټولنیزو مسئلو پـه اړه جایز او بلکې مستحب ګڼل کېږي او کله کله د امر په معروف او لـه منکـر څخـه د نهې لپـاره د وسیلې په توګه واجبیږي. « بَلِ الْإِنْسَانُ عَلَى نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ »[قیامت ۱۴ (۷۵:۱۴)] پخپلـه انسان ډېر ښه پوهیږي چې هاغه مهال چې یو ځای کې [تذکر کوي او انتقاد او ګوتنیونـه کـوي او د نورو عیب وایي آیا له دې کاره خوند اخلي یا د اصلاح موخه لري] د بېلګې په توګه که یـو څوک د ټولنیزې ګناه ارتکاب کوي ددې لپاره چې له دې کاره یـې مخنیـوی وشـي بایـد خلکـو ته وویل شي. لکه قرآن چې د ظالم په اړه فرمایي: «لَا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلَّا مَنْ ظُلِمَ» هاغه څوک چې په څرګنده توګه د خلکو بده ستاینه کوي د الله نه خوښیږي [یعنې د بد ستاینې غږ د خلکو پر ضد پورته کړي] مګـر د ظـالم پـه مقابـل کې د مظلـوم لپـاره. مظلـوم غواړي نیاو غوښتنه وکړي. دا ځانګړي حالتونه دي. خو انسان پخپلـه ښـه پـوهیږي چې کـه د چا عیب وایي هغه ته پخپله، هغه ته مخامخ ، یا کله کله د هغه پس شا، آیا خونـد ورکـوي لـه دې چې د هغه ابرو تویه کړي، یا واقعاً د اصلاح قصد لري؛ نه یوازې دا چې خونـد نـه ورکـوي بلکې له دې چې هغه تکراروي او په ژبه یې راوړي ناراحت کېـږي خـو ناچـاره دی لـه دې چې خبرې وکړي نو دا له یو بل سره اشتباه نه شي.

د اسلام حقیقت، د الله او د الله له مخلوق سره په تړاو کې دی، او د نجات او نېکمرغـۍ لار د الله له بندګۍ او اړمنو سره له مرستو تېرېږي، رښـتیني واقعـي دیـن پالنـه داده چـې د اړمنـو او فقیرانو په فکر کې هم اوسو، پرته له عیب ښارنې او ویار سپړنې له هغوی سره مرسته وکړو.

د نورو د شخصیت د ماتولو، تمسخر او تحقیر کولو په ښـویندۍ او کنـده کې لـه پرېوتـو او د شتمنیو او پانګې په شمېرنې له بوختېدلو او غافلېدلو، چې ګوندې موږ به تلپاتې کړي، الله تـه پناه وروړو. پناه پر خدای له تیاره، خطرناکې او جهنمي راتلونکې.

د الله لـه دربـاره غـواړو چـې د ایمـان او صـالح عمـل توفیـق پـر مـوږ ولـوروي چـې وکـولی شو د اماره نفس له داسې لومو او دامونو څخه ژغورنه او خلاصون ومومو.

الها! موږ د مال، مقام او دنيا له مستۍ او شهوتونو وساته!
پالونکی څښتنه! موږ د شيطان له سلطې او برلاسۍ او د درهم او دينار له بندګۍ وژغوره!
پاکه ربه! د دوزوخ اور ډېر ماتوونکی دی او له هغه څخه خلاصون ستا له لطف پرته شونی ندی، موږ په خپل لطف کې شامل کړه.
صدق الله العليّ العظيم.

---

**يادونه:** ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:

۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان لېکنه
۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضی مطهري ليکنه
۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب لېکنه
۴ ـ تفهيم القرآن ـ د سيد ابوالاعلی مودودي ليکنه
۵ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرګان
۶ ـ الميزان في تفسيرالقرآن ـ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه
۷ ـ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ـ مولانا محمود الحسن ديوبندي او علامه شبير احمد عثماني] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله
۸ ـ پرتوی از قرآن ـ د سيد محمود طالقاني ليکنه
۹ ـ تفسير نمونه ـ د آيت الله مکارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي ليکنه
۱۰ ـ تفسير نور ـ د مصطفی خرمدل ليکنه
۱۱ ـ تابشي از قرآن ـ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي ليکنه
۱۲ ـ تفسير باران ـ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه
۱۲ ـ ترجمه تفسير طبري ـ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح
۱۳ ـ تفسير ابن کثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي
۱۴ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه
۱۵ ـ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ـ ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي
۱۶ ـ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی
۱۷ ـ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قيام الدين کشاف
۱۸ـ عزيزالتفاسير ـ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ـ مولوي سلطان عزيز (عزيز)

۱۹ ـ صفوةالتفاسير ـ د محمدعلي الصابوني ليکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
۲۰ ـ د قرآن پلوشې ـ د کلب الدين حکمتيار ليکنه
۲۱ ـ تفسير ديوبندي ـ  د مولوي عبدالحنان ليکنه
۲۲ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امين الله پېښاوری ليکنه
۲۳ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لیکنه
۲۴ ـ تفسير احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه
۲۵ ـ قرآن کريم په پښتو ـ د اجرالدين اقبال ژباړه
۲۶ـــ شرحي بر سوره های قرآن  ـ عبدالعلي بازرگان  ـ د عبدالعلي بازرگان وېب پاڼه [bazargan.com]
۲۷ ـ تفسير روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.
۲۸ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز
۲۹ ـ روح المعاني فی تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانی ــ العلامه ابی الفضل  شهاب الدين محمود الالوسی البغدادي
۳۰ ـ تفسير جواهرالقرآن ـ مولانا حسين علي
۳۱ ـ تفسير روح البيان ـ شيخ اسماعيل حقی البروسوی
۳۲ ـ «کنزالايمان  او  تفسير نورالعرفان» ترجمه احمد رضاخان بريلوي، تفسير احمد يارخان نعيمي
۳۳ ـ کشف الاسرار و عُدة الابرار ـ [د قرآنکريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري
۳۴ ـ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوی محمد ظاهر اسدالله مکي